# څلوېښت

# نبوي وصيتونه

## (الاربعين)


تألیف:

مفتي عبدالهادي حماد



ناشر

جامعه اسلاميه حماديه

دوولسمه ناحيه، کندهار- افغانستان


څلوېښت نبوي وصيتونه

تألیف: مفتي عبدالهادي حماد

## د مؤلف نور چاپ سوي کتابونه

١: اړينه پوهه

٢: لوی ګناهونه  ددوزخ لمبې

٣: سپېڅلي ورځي

۴: موسيقي او نوی ليکوالان

۵: تجويد (درسي کتاب)

٦: داسلامي نړۍ مظلوميت او دخلاصون لاري چاري

٧: ريشتني باور

٨: دتلاوت لارښود

٩: دماشومانو لمونځ (درسي کتاب)

١٠: پښتو او حساب (درسي کتاب)

١١: نبوي کورنۍ

١٢: نبوي معجزې

١٣: نبوي غزاوي

١۴: دسپېڅلي پيغمبر سپېڅلی ژوند

١۵: اسلامي اداب (درسي کتاب)

١٦: دتقليد شرعي حيثيت

١٧: ښوونه، چې ور زده کړو

١٨: په اسلام کي حرام ديد

١٩: خپل ځانونه وپېژنئ

٢٠: د نبوت او انبياوو تاريخ

٢١: ددوزخ اودوزخيانو حالات

٢٢: يوولس ګناهکاري ډلي

٢٣: په سروتيارو کي سرې لمبې

٢۴: کوډې جادوګري او ناروا تعويذونه داسلام له نظره

٢۵: فضائل اعمال

٢٦: فکري جګړه

٢٧: دامام اعظم رح وصيتونه

٢٨: شپږ ګناهګاري ډلی

٢٩: دزکاة احکام

٣٠: اسلام ميشتي سيمي اودهغوی برخليک

٣١: قول الفهام في قرائت خلف الامام

٣٢: دانبياوو عليهم السلام ژوندليکونه

٣٣: ايا زموږ په هيواد کي دجمعې لمونځ سته؟

٣۴: حنفي مذهب زموږ  ښکلی مذهب دئ

٣۵: مواعظ العلماء عربي دوه جلده

٣٦: تفهيم التفاسير ١٢ جلده

٣٧: د کرونا اړونده شرعي احکام او هدايات

٣٨: الهي زندان او زندانيان

٣٩: تدوين الفقه

۴٠: الکافي شرح السراجي

۴١: ښه زده کوونکی (درسي کتاب)

۴٢: سپېڅلی ماشوم (درسي کتاب)

۴٣: درسي تجويد (د څلورم ټولګي لپاره)

۴۴: درسي تجويد (د پنځم ټولګي لپاره)

۴۵: درسي تجويد (د شپږم ټولګي لپاره)

۴٦: څلوېښت نبوي وصيتونه (همدا اثر)


مکتبه ودوديه

ثلوېښت(۴۰)

# نبوي وصيتونه

(الاربعين)


**تاليف:**

مولوي عبدالهادي حماد



**ناشر:**

جامعه اسلاميه حماديه

**قندهار افغانستان**

**د دې کتاب ټول حقوق خوندي دي!**

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: څلوېښت نبوي وصيتونه

د مؤلف نوم: مولوي عبدالهادي حماد

خپرونکی: جامعه اسلامیه حمادیه، قندهار

د چاپ کال: ۱۴۴۴هـق = ۱۴۰۱هـش

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰

د چاپ ځل: لومړی

د تیلیفون شمېرې: ۰۷۰۰۸۶۱۵۱۵۱ ۰۷۰۰۲۱۷۵۴۶

دلاسته راوړلو ځایونه:

**لومړی ځای:**

۱۲ ناحیه، فامیلۍ پول، جامعه اسلامیه حمادیه، لومړی ښانګه

**دوهم ځای:**

عینومېنه، ۳۱ سړک، جامعه اسلامیه حمادیه، مرکز

بسم الله الرحمن الرحيم

# مقدمه

الحمد لله الذي خضعت لعزته الرقاب وأشرقت لنور وجهه الظلمات، وصلح على شرعه أمر الدنيا والآخرة، والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين، نبينا محمد وعلى آله وصحبهأجمعين.

أما بعد:

درنولوستونکو !

د الله جل جلاله يو لوی نعمت دادئ، چې د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم امت ته د ژوند په هر ډګر کې د کاميابۍ طريقه ورښوولې ده يعني داچې که څوک غواړي کامياب آمر سي، که څوک غواړي کامياب مامور سي، که څوک غواړي ښه پلار سي، که څوک غواړي ښه زوی سي، که څوک غواړي ښه کليوال سي، که څوک غواړي ښه همسايه سي ...بلکې په هره لاره کې که څوک کاميابي غواړي الله جل جلاله ورته حکم کوي، چې تاسو په هغه لاره د خپل پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم وصيتونه عملي کړئ، ضرور به کامياب ياست هغه داسې پيغمبر دئ، چې الله جل جلاله يې خپله د تګ لارې، سترګو، غوږونو، زړه، اخلاقو ستاينه کړې ده.

الله جل جلاله د رسول الله صلی الله عليه وسلم تګ لارې ستايلې ده، په اړه فرمايي:

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى [النجم: ٢]

ژباړه: ستاسي ملګری نه بېلاري سوی دی او نه یې په سرغړاوي سره سمه لاره پرې ایښې ده.
الله جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژبه ستایلې ده او فرمایي:
وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى [النجم: ٣، ٤]
ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل مزاج څخه خبري نه کوي بلکي (دی، چي څه وايي) هغه یوازي الهي وحي دي.
همدا ډول الله جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه ستایلی دئ، په اړه یې فرمایي:
مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى. [النجم: ١١]
ژباړه: سترګو چي څه ولیدل، زړه په هغه کښې دروغ ګډ نه کړل.
همدا ډول الله جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم دید ستایلی دئ، په اړه یې فرمایي:
مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى [النجم: ١٧]
ژباړه: نه (د محمد صلی الله علیه وسلم) سترګي (بلي خوا ته) وګرځېدې او نه له حده تېر سو.
همدا ډول الله جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښوونکی ستایلی دئ، په اړه یې فرمایي:
عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى . ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَى [النجم: ٥، ٦]
ژباړه: هغه ته برلاسی ځواکمن (جبرائیل علیه السلام) ښوونه کوي، چي د ډېر جسماني او روحاني قوت خاوند دی، هغه مخامخ راغلی ودرېدی.
همدا ډول الله جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاق ستایلي دي، په اړه یې فرمایي:
وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ [القلم: ٤]

ژباړه: دا خبره یقیني ده چې ته د ډېرو لویو اخلاقو څښتن یې.
حاصل دا چې الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم په دومره لویه اندازه ستایلی دئ، چې د ټول مخلوق لپاره یې رحمت بللی دئ، په اړه یې فرمایي:
وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ. [الأنبياء: ١٠٧]
ژباړه: او موږ د شک پرته د ټولو عالمیانو لپاره رحمت لیږلی یې.
د پورته خبرو په نظر کښې نیولو سره دوې خبرې د غور قابلې دي:

**یو:**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاینه کول ګران کار دئ پورته صرف نمونه وه خو که دغه نمونې ته وکتل سي او فکر پکښې وسي نو داسي پیغمبر، چې ستر سبحان یې تګلاره، ژبه، سترګې، زړه، اخلاق ستایلي دي او د ټول مخلوق لپاره یې رحمت بللی دئ نو دداسي پیغمبر وصیتونه به ولې ستر اهمیت نه لري بناء په دې مختصره رساله کې ځیني هغه وصیتونه رانقلوم، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابانو ته کړي دي خو په حقیقت کې هغه د ټول امت لپاره دي.

**دوه:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:
کوم سړی چې زما وامت ته داسي ثلوېښت احادیث وریاد کړي چې د دین په کارونه کښې دوی ته ګټه ورسوي د قیامت په ورځ به د علماوو په ډله کښې راپورته سي.[1]
دا چې یو مسلمان د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګټمنو وصیتونو څخه برخمن سوی وي او هم د ثلوېښتو احادیثو د یاد او نورو ته د رسولو

---

١ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ حَفِظَ عَلَى أُمَّتِي أَرْبَعِينَ حَدِيثًا فِيمَا يَنْفَعُهُمْ مِنْ أَمْرِ دِينِهِمْ بُعِثَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْعُلَمَاءِ...شعب الايمان للبيهقي، رقم: ١٥٩٦

څخه برخمن سوی وي په همدې امید تاسو ته لاندي څلوېښت نبوي وصیتونه په څلوېښتو احادیثو کښي وړاندي کیږي هیله مي داده، چي ګوندي یو څوک ځني مستفید سي او په الهي دربار کښي زما عاصي د نیکو اعمالو تله په درنده سي.

په درنښت ستاسو ورور

مولوي عبدالهادي حماد ۱۳ جمادي الثاني ۱۴۴۴ه ق

♣♣♣♣♣♣

# لومړی وصيت

## د آمر اطاعت وکړئ، د همسايه حق ورکړئ...!

رسول الله صلی الله عليه وسلم د آمر د امر منلو، د همسايه فکر کولو او لمانځه اړونده وصيت کړی دئ، په روايت کښي داسي راځي:

فعن أبي ذر - رضي الله عنه- قال: أوصاني خليلي - عليه الصلاة والسلام - بثلاثة: "اسمع وأطع ولو لعبدٍ مجدّع الأطراف، وإذا صنعت مرقة فأكثر ماءها ثم انظر أهل بيت من جيرانك فأصبهم منه بمعروف، وصلِّ الصلاة لوقتها وإذا وجدت الإمام قد صلّى فقد أحرزت صلاتك وإلا فهي نافلة. [1]

ژباړه: ابوذر رضي الله عنه فرمايي:

ما ته خپل اشنای (رسول الله صلی الله عليه وسلم) د درو شيانو صيت کړی دئ:

١: د خپل آمر امر اوره او اطاعت يې کوه که څه هم آمر دي فلج وهلی مريی وي.

٢: که دي ښوروا پخه کړه نو اوبه يې ور ډيري کړه بيا د همسايګانو د کورنۍ غړي وګوره په ښه طريقه هغو ته هم يو شی ځني ورکړه.

٣: پر خپل وخت باندي لمونځ کوه، که دي امام وليدی، چي لمونځ يې کاوه نو د خپل لمانځه ساتنه وکړه (يعني ګډون ورسره وکړه او که دي لمونځ کړی وو د امام سره دوهم لمونځ) به ستا لپاره نفل سي.

[1]: رواه ابن ماجة برقم (٢٨٥٣)

# دوهم وصيت

## صله رحمي وکړئ، د مسکين سره محبت وکړئ...!

اصلا دا يوه وصيت نه بلکي اوه وصيته دي، چي په يوه روايت کښي داسي را نقل سوي دي:

وعن أبي ذر - رضي الله عنه- قال: أمرني خليلي - صلى الله عليه وسلم- بسبع: "أمرني بحب المساكين والدنو منهم، وأمرني أن أنظر إلى من هو دوني ولا أنظر إلى من هو فوقي، وأمرني أن أصل الرحم وإن أدبرت، وأمرني أن لا أسأل أحداً شيئاً، وأمرني أن أقول بالحق وإن كان مُرّاً، وأمرني أن لا أخاف في الله لومة لائم، وأمرني أن أُكثر من قول لا حول ولا قوة إلا بالله فإنهن من كنز تحت العرش". [1]

ژباړه: ابوذر رضي الله عنه فرمايي:

ما ته خپل اشناى (رسول الله صلى الله عليه وسلم) د اوو شيانو صيت کړى دئ:

۱: ماته يې امر وکړئ، چي زه به د مسکينانو سره محبت کوم او نژدې به ورسره پاتيږم.

۲: زه به هغه چاته ګورم، چي تر ما کښته وي ، هغه چاته به نه ګورم، چي تر ما لوړ وي.

۳: زه به صله رحمي کوم که څه هم قريبانو مخ را څخه اړولى وي.

۴: زه به د هيچا څخه د مال خواست نه کوم.

۵: زه به حق وينا کوم که څه هم ترخه وي.

۶: په الهي کارونو کښي به د هيچا د ملامتيا څخه نه بيريږم.

---

[1]: رواه أحمد برقم (٢٠٤٤٧

۷: زه به لاندي کلمه وایم، چي تر عرش لاندي خزانه ده:
لا حول ولا قوة إلا بالله فإنهن من كنز تحت العرش.

## دریم وصیت
## صحیح دین عملي کړئ!

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځینو اختلافونو او په دین کښې د نوو شیانو د پیدا کېدو وړاندوینه د معجزې په ډول کړې ده ، په دغسي حالاتو کښې یې خپلو امتیانو ته په لاندي ډول وصیت کړی دئ:

عن العرباض بن سارية قال: وعظنا رسول الله - صلى الله عليه وسلم- يوماً بعد صلاة الغداة موعظة بليغة؛ ذرفت منها العيون، ووجلت منها القلوب، فقال رجل: إن هذه موعظة مودّع فماذا تعهد إلينا يا رسول الله؟ قال: "أوصيكم بتقوى الله، والسمع والطاعة وإن عبد حبشي، فإنه من يعش منكم يرى اختلافاً كثيراً، وإياكم ومحدثات الأمور فإنها ضلالة، فمن أدرك ذلك منكم فعليه بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ. [1]

ژباړه: عرباض بن ساریة رضي الله عنه فرمایي:
یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته تاثیر لرونکی وعظ وکړی، چي په (اورېدلو) یې سترګو اوښکي توی کړې، زړونه وبېرېدل، بیا یو سړی وویل: دا خو دشکه وتلی د رخصت وعظ وو نو اې د الله رسوله! ته موږ ته د څشي وصیت کوې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

---

[1]: رواه الترمذي برقم (۲۶۰۰)

زه تاسو ته د تقوا وصیت کوم، د آمر د اطاعت وصیت درته کوم که څه هم تور مریی وي، دا خبره یقیني ده چي که ستاسو څخه څوک ژوند کوي خامخا به ډېر اختلافونه ویني ، تاسو په دین کښي د نوو پیدا سوو شیانو څخه ځانونه وساتئ دغسي شیان په یقیني ډول ګمراهي ده ، که ستاسو څخه څوک د دغسي حالت سره مخ سو نو پر تاسو باندي زما سنت عملي کول لازم دي او د راشدینو خلفاوو طریقه علمي کول لازم دي تاسو دغه طریقې د زامي په غاښو ونیسئ (یعني کلک ورباندي عمل وکړئ)

## څلورم وصیت

### اوه عجیبه خبري

رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته د اوو داسي خبرو وصیت کړی دئ کومي چي الله جل جلاله ورته ښوولي دي ، یادي خبري په لاندي روایت کښي راغلی دي:

قال رسول الله – صلى الله عليه و سلم- : ((أوصاني ربي بسبع أوصيكم بها: أوصاني بالإخلاص في السر والعلانية، والعدل في الرضا والغضب، والقصد في الغنى والفقر، وإن أعفو عمّن ظلمني، وأُعطي من حرمني، وأصل من قطعني، وأن يكون: صمتي فكراً، ونُطقي ذكراً، ونظري عِبَراً)) . [۱]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

ما ته خپل رب جل جلاله د اوو خبرو وصیت وکړی دئ زه یې تاسو ته کوم (هغه اوه خبري دادي:)

۱: ما ته (خپل رب) وصیت وکړی، چي زه به په پټه او ښکاره اخلاص کوم.

---

[۱]: رواه رزين، مشكاة المصابيح برقم (۵۳۵۸)

۲: د رضا او غضب په دواړه حالتونو کښې به عدل کوم.
۳: که شتمن یم او که مسکین یم میانه روي به کوم.
۴: څوک، چې ظلم راسره وکړي عفوه به ورته کوم.
۵: څوک چې شی نه راکوي زه به شی ورکوم.
۶: دهغه چا سره به (هم) صله رحمي کوم، چې څوک یې نه راسره کوي.
۷: که چوپ یم (دالهي قدرتونو) فکر به کوم، که مي ژبه په حرکت کښې وه الهي ذکر به کوم او که مي کتل نو دعبرت لپاره به مخلوقاتو ته ګورم.

## پنځم وصیت

### پنځه عجیبه خبرې

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت ته پنځه داسي وصیتونه کړي دي، چې د حقیقي ژوند څخه د خوند اخستلو راز پکښې دئ، یاد پنځه وصیتونه په لاندي روایت کښې جمع سوي دي:

فعن أبي هريرة - رضي الله عنه- قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم-: ((من يأخذ عني هذه الكلمات فيعمل بهن أو يُعلِّم من يعمل بهن؟)) فقال أبو هريرة: قلت: أنا يا رسول الله، فأخذ بيدي فعدّ خمساً فقال: ((اتّق المحارم تكن أعبد الناس، وارض بما قسم الله لك تكن أغنى الناس، وأحسن إلى جارك تكن مؤمناً، وأحبَّ للناس ما تُحبّ لنفسك تكن مسلماً، ولا تكثر الضحك فإن كثرة الضحك تميت القلب)). [1]

---

[1]: رواه أحمد والترمذي، انظر حديث رقم (۱۰۰) في صحيح الجامع.

ژباړه: ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:
داسي څوک سته، چي دغه خبري زما څخه واخلي بيا خپله عمل په وکړي او يا يې داسي چا ته ورزده کړي چي هغه عمل ورباندي وکړي؟
ابوهريرة رضي الله عنه ورته وويل: زه يې غواړم اې د الله رسوله!
(ابوهريرة رضي الله عنه وايي چي) رسول الله صلى الله عليه وسلم زه تر لاسه ونيولم پنځه يې وشمېرل بيا يې راته وويل:
۱: د حرامو څخه ځان وساته په خلکو کښي به زيات عبادت کونکى سې.
۲: د الله جل جلاله په تقسيم راضي سه په خلکو کښي به زيات شتمن سي.
۳: د همسايه سره ښه سلوک کوه (کامل) مؤمن به سې.
۴: خلکو ته هغه څه خوښوه کوم، چي ځانته يې خوښوې (کامل) مسلمان به سې.
۵: ډېره خندا مه کوه ځکه ډېره خندا د شک پرته زړه وژني.

## شپږم وصيت

### تر لمانځه وروسته يوه خاصه دعا

رسول الله صلى الله عليه وسلم معاذ رضي الله عنه ته يوه دعا ورښوولې ده، چي د ټول امت لپاره د وصيت او يوه ځانګړې تحفه ده چي په لاندي روايت کښي بيان سوې ده:
عن معاذ بن جبل أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم- أخذ بيده وقال: ((يا معاذ والله إني لأحبك، والله إني لأحبك، فقال: أوصيك يا معاذ

لا تدعنّ في دبر كل صلاة تقول: اللهم أعنّي على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك)). [١]

ژباړه: د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دئ (دی مبارک وايي چي) رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ رضي الله عنه تر لاس ونيوی او وې فرمايل:

اې معاذه! په الله جل جلاله قسم کوم چي په يقيني ډول محبت درسره لرم او اې معاذه! په الله جل جلاله قسم کوم چي په يقيني ډول محبت درسره لرم. بيا يې وفرمايل: اې معاذ زه وصيت درته کوم چي دغه کلمې ويل تر هر لمانځه وروسته مه پرېږده:

اللهم أعنّي على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك.

## اووم وصيت

### د مسلمان پر مسلمان حق

رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاندي روايت کښي دځينو هغو حقوقو وصيت کړی دئ، چي يو مسلمان يې پر مسلمان باندي لري:

عن أبي هريرة - رضي الله عنه- قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم-: ((لا تحاسدوا، ولا تناجشوا، ولا تباغضوا، ولا تدابروا، ولا يبع بعضكم على بيع بعض، وكونوا عباد الله إخواناً، المسلم أخو المسلم، لا يظلمه ولا يخذله ولا يحقره، التقوى هاهنا، ويشير إلى

١: رواه أبو داود برقم (١٣٤٧).

صدره ثلاث مرات، بحسب امرئ مسلم من الشرّ أن يحقر أخاه المسلم، كل المسلم على المسلم حرام: دمه، وماله، وعرضه)). [1]

**ژباړه: ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:**

**۱: تاسو يو دبله حسد مه سره کوئ.**

**۲: يو پر بل باندي ځانونه مه سره لوړوئ (يا داچي د شر او جګړې لپاره يو د بله دوکې مه سره ورکوئ يا داچي د مشتري د دوکې لپاره لوړ قيمت مه يادوئ.)[2]**

**۳: يو د بله بغض مه سره کوئ!**

**۴: يو د بله پشت شا خبري مه سره کوئ!**

**۵: که يو کس د بل يوه سره د سودا په وعده کښې وي هغه مه دوکه کوئ، چي د خپل ځان د ګټې لپاره ثو پيسې زياتي ورکړئ او هغه سودا ماته کړئ.**

**۶: ديوه الله جل جلاله بندګان جوړ سئ، مسلمان د مسلمان ورور دئ پر خپل ورور دي ظلم نه کوي.**

**۷: خپل مسلمان ورور دي نه سپکوي ، نه دي يې توهينوي ، تقوا دلته ده رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلي سينې ته درې ځلي اشاره، د مسلمان لپاره دومره ګناه بس ده، چي خپل مسلمان ورور ذليل کړي.**

---

[1]: رواه مسلم برقم (٤٦٥٠).

۲ : (وَلَا تَنَاجَشُوا) : مِنَ النَّجْشِ بِالْجِيمِ وَالْمُعْجَمَةِ. قِيلَ الْمُرَادُ بِهِ طَلَبُ التَّرَفُّعِ وَالْعُلُوِّ عَلَى النَّاسِ وَهُوَ الْمُنَاسِبُ لِسَابِقِهِ وَلَاحِقِهِ. وَقِيلَ: أَنْ يُغْرِيَ بَعْضٌ بَعْضًا عَلَى الشَّرِّ وَالْخُصُومَةِ، وَهُوَ مِنْ نَتَائِجِ التَّجَسُّسِ. وَقِيلَ: هُوَ الزِّيَادَةُ فِي الثَّمَنِ بِغَيْرِ رَغْبَةٍ فِي السِّلْعَةِ، بَلْ لِيَخْدَعَ الْمُشْتَرِي بِالتَّرْغِيبِ مِنَ النَّجْشِ رَفْعِ الثَّمَنِ، وَهَذَا الْمَعْنَى هُوَ الْمَشْهُورُ عِنْدَ الْفُقَهَاءِ، وَقِيلَ: مِنَ النَّجْشِ مَعْنَى التَّنْفِيرِ أَيْ لَا يُنَفِّرُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا بِأَنْ يُسْمِعَهُ كَلَامًا أَوْ يَعْمَلَ شَيْئًا يَكُونُ سَبَبَ نُفْرَتِهِ...مرقاة المفاتيح: ۸ / ۳۱۴۸

۸: پر هر مسلمان باندي د بل مسلمان وينه تويول (حرام دي)، مال او سامان اخستل يې حرام دي.

## اتم وصيت

### د دنيوي بلاوو څخه د خلاصون لار

رسول الله صلى الله عليه وسلم دېر ټينګار کړی دئ، چي مومن مسلمان بايد د خير او شر مالک يوازي الله جل جلاله وبولي په دې اړه يې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته ځانګړی وصيت کړئ، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه اکا زوی دئ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دېر محبت ورسره درلودئ په حقيقت کي دغه وصيت ټول امت ته دئ ، هغه وصيت په لاندي ډول دئ:

فعن ابن عباس - رضي الله عنه- قال: كنت خلف رسول الله - صلى الله عليه وسلم- يوماً فقال: ((يا غلام إني أعلمك كلمات: احفظ الله يحفظك، احفظ الله تجده تجاهك، إذا سألت فاسأل الله، وإذا استعنت فاستعن بالله، واعلم أن الأمة لو اجتمعت على أن ينفعوك بشيء لم ينفعوك إلا بشيء قد كتبه الله لك، ولو اجتمعوا على أن يضروك بشيء لم يضروك إلا بشيء قد كتبه الله عليك، رفعت الأقلام، وجفّت الصحف)). [1]

ژباړه: ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: يوه ورځ زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر شا سپور وم چي رسول الله صلى الله عليه وسلم راته فرمايل:

اې هلکه ! زه تا ته ځيني خبري ښيم:

---

[1]: رواه الترمذي برقم (۲٤٤۰) المشكاة برقم(۵۳۰۲).

١: د الله جل جلاله د حدودو ساتنه کوه (يعني ټول اوامر يې په کولو او د نواهيو څخه يې په منع باندي محفوظ ساته) الله جل جلاله به ستا حفاظت وکړي (د هر قسم ظاهري او معنوي فتنو څخه به دي وساتي)
٢: د الله جل جلاله د حدودو ساتنه کوه ! الله تعالى به خپل مخته پيدا کړې (يعني داچي ته د الهي احکامو پابند جوړ سې د هري اړتيا په وخت کښې به الله جل جلاله ستا د غوښتني جواب در پوره کوي)
٣: (که دي څه احتياج سو) خواست دي کاوه نو د الله جل جلاله څخه خواست کوه او (که دي د کومک غوښتلو اړتيا سوه) کومک دي غوښتى نو د الله جل جلاله څخه کومک غواړه! او دا خبره يقيني ده چي که دا ټول امت د دې لپاره سره يو ځاى سي چي تا ته ګټه ورسوي هيڅ يې نه سي در رسولاى غير له هغه چي الله جل جلاله ستا لپاره په تقدير کښې ليکلې ده او که دوى ټول سره جمع سي، چي تا ته نقصان ورسوي هيڅ تاوان نه سي در رسولاى غير له هغه څخه چي الله جل جلاله ستا په تقدير کښي ليکلى وي، قلمونه پورته سوي دي او پاڼې وچي سوي دي.(يعني داچي د تقدير فيصلې لا د پخوا څخه ليکل سوي دي)

## نهم وصيت

### جنت ته د داخلېدو اسباب

رسول الله صلى الله عليه وسلم ابوهريرة رضي الله عنه ته ځيني داسي اسانه عملونه ښوولي دي، چي د جنت د داخلېدو سبب جوړېږي:
وعن أبي هريرة - رضي الله عنه- قال: قلت يا رسول الله إني إذا رأيتك طابت نفسي، وقرّت عيني، فأنبئني عن كل شيء؟ فقال: ((كل شيء خُلق من ماء)) قال: قلت يا رسول الله أنبئني عن أمر إذا أخذت به

دخلت الجنّة؟ قال: ((أفش السلام، وأطعم الطعام، وصل الأرحام، وقُم بالليل والناس نيام، ثم ادخل الجنة بسلام)). [1]

ژباړه: ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي : ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: اې د الله رسوله! دا خبره يقيني ده چي زه هر وخت تا ووينم زړه مي خوشحاله سي او سترګي مي يخي سي نو ما د هر شی څخه خبر کړه! رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هر شی د اوبو څخه پيدا سوی دئ.

ابوهريرة رضي الله عنه وويل: ما دداسي شی څخه خبر کړه چي زه يې واخلم او جنت ته په ولاړ سم!

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: (هر مسلمان ته) سلام وايه، خوراک ورکوه ، صله رحمي کوه، د شپې داسي وخت (د تهجد) لمونځ کوه چي خلک بيده وي نو بيا جنت ته په سلامتيا داخل سه!

## لسم وصيت

### پر حيوان باندي رحم وکړئ!

رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا چي د انسانانو لپاره رحمت دئ بلکي د ټول عالم لپاره رحمت دئ، چي په سلسله کښي يې پر حيوانانو باندي هم د ترحم وصيت کړی دئ ، دغه وصيت په لاندي روايت کښي راځي :

عن شدّاد بن أوس - رضي الله عنه- أن النبي - صلى الله عليه وسلم- قال: ((إن الله كتب الإحسان على كل شيء، فإذا قتلتم فأحسنوا القِتلة، وإذا ذبحتم فأحسنوا الذِّبحة، وليُحدّ أحدكم شفرته، وليُرِح ذبيحته)) [2]

---

[1]: رواه أحمد والحاكم، وقال الحاكم: (صحيح الإسناد) ووافقه الذهبي الإرواء (ج٣ ص٢٣٧).

[2]: رواه مسلم برقم (٣٦١٥).

ژباړه: شداد بن اوس رضي الله عنه فرمايي، چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
الله جل جلاله په يقيني ډول لازمه کړې ده چي د هر شی په وړاندي به د احسان معامله کيږي نو کله چي تاسو قتل کوئ (يعني پر يو کس باندي قصاص جاري کيږي) نو په ښه طريقه يې قتل کړئ (يعني په ظلم يې مه وژنئ) او کله چي تاسو کوم حيوان ذبحه کوئ نو په ښه طريقه يې ذبح کړئ ستاسو څخه (چي) هر يو (ذبح کوي) نو خامخا دي چاړه تيره کړي او حيوان دي په اسانۍ سره ذبح کړي (چي تعذيب يې ونه کړل سي)

## يوولسم وصيت

### پنځه شيان غنيمت وګڼئ!

رسول الله صلی الله عليه وسلم د پنځو شيانو د غنيمت بللو امر کړی دئ او فرمايي:
قال النبي - صلى الله عليه وسلم- لرجل وهو يعظه: ((اغتنم خمساً قبل خمس: شبابك قبل هرمك، وصحتك قبل سقمك، وغناك قبل فقرك، وفراغك قبل شغلك، وحياتك قبل موتك)) . [1]
ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم يو کس ته د وصيت کولو پر مهال وفرمايل:
پنځه شيان تر پنځو مخکي غنيمت وګڼه: ځواني تر زوړوالي مخکي غنيمت وګڼه، روغتيا تر ناروغۍ مخکي غنيمت وګڼه، شتمني تر مسکنت مخکي غنيمت وګڼه، فارغه وخت تر مصروفيت مخکي غنيمت وګڼه او ژوند تر مرګ مخکي غنيمت وګڼه.

[1]: رواه أحمد. انظر حديث رقم (۱۰۷۷) في صحيح الجامع.

(يعني په لومړيو پنځو وختونو کښې د دوهمو پنځو وختونو لپاره تياري ونيسه)

## دوولسم وصيت

### په دنيا کښې د اوسېدونکي په اړه

په دنيا کښې ډېر خلک هڅې کوي، هيلې لري او زحمتونه ګالي دا ټول بايد وکړي خو متاسفانه ځيني کسان تر داسي اندازې ورسيږي چې ګويا دا دنيا بيخي نه فاني کيږي دده ژوند پکښې تل ودان دئ ، په دې اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي وصيت دئ:

عن ابن عمر - رضي الله عنهما - قال: أخذ رسول الله - صلى الله عليه وسلم- بمنكبي فقال: ((كن في الدنيا كأنك غريب أو عابر سبيل)) [1]

ژباړه: ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي : رسول الله صلى الله عليه وسلم رسول الله صلى الله عليه وسلم زه تر اوږه ونيولم بيا يې راته وويل:

په دنيا کښې داسي اوسه لکه يو نابلده کس (چې څوک يې نه پېژني) او يا هم پر لاري تېرېدونکی مسافر وي.

مطلب دا چې نابلده کس او دلاري مسافر دخلکو سره يوازې د مقصد خبرې کوي، نه په نابلده ځای کښې بې ځايه وخت تېروي ، نه بې مقصده کارونه کوي نو ته هم په دنيا کښې د اخرت په تياری اوسه او په دنيا کښې يوازې د ضرورت کارونه کوه.

ابن عمر رضي الله عنهما به داسي ويل: کله چې ماښام کړې نو د سهار انتظار مه کوه او کله چې سهار کړې د ماښام انتظار مه کوه (دا هيڅ په باور نه ده چې ته به د ورځې تر پايه ژوند وکړې که يا؟) او د ناروغۍ د

---

[1]: رواه البخاري برقم (٥٩٣٧).

وخت لپاره د روغتيا پر مهال (په عبادت کولو) تيارې ونيسه او د مرګ لپاره په ژوند کښي (په عبادت کولو) تيارې ونيسه. [1]

## ديارلسم وصيت

### د سفر اړوند

د د سفر په اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي وصيت کړى دئ:

عن أبي هريرة -رضي الله عنه- عن النبي -صلى الله عليه و سلم- قال: ((السّفر قطعة من العذاب، يمنع أحدكم طعامه، وشرابه، ونومه، فإذا قضى نهمته فليعجّل إلى أهله)). [2]

ژباړه: ابوهريرة رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

سفر د عذاب يوه ټوټه ده ستاسو څخه هر يو (چي سفر وکړي نو د هغه) خوراک، څښناک او خوب څخه يې منع کوي (کوم چي په هوسا ډول يې يو کس د عادت له مخي په کور کښي کوي ځکه) نو کله چي يې د سفر مقصد پوره سي ژر دي خپل کورته ځان رسوي.

## څوارلسم وصيت

### دسهار او ماښام ذکرونه

رسول الله صلى الله عليه وسلم ځيني ذکرونه د وصيت په ډول خپلي لور ته ښوولي دي، چي سهار او ماښام وويل سي:

---

[1]: رواه البخاري برقم (۵۹۳۷).

[2]: رواه البخاري برقم (۱۶۷۷).

عن أنس بن مالك - رضي الله عنه- قال: قال رسول - صلى الله عليه وسلم- لفاطمة -رضي الله عنها- : ((ما يمنعك أن تسمعي ما أوصيك به أن تقولي إذا أصبحت وإذا أمسيت: يا حي يا قيّوم برحمتك أستغيث أصلح لي شأني كله ولا تكلني إلى نفسي طرفة عين)) . [١]

**ژباړه: انس رضي الله عنه فرمايلي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فاطمې رضي الله عنها ته وفرمايل:**

**سهار او ماښام دي د هغو کلماتو د ويلو څخه هيڅ شى تا منع کړي چي زما تر وصيت کولو وروسته يې ته واورې (هغه کلمات داي):**

يا حي يا قيّوم برحمتك أستغيث أصلح لي شأني كله ولا تكلني إلى نفسي طرفة عين

# پنځلسم وصيت

## د مؤمن صفات

**رسول الله صلى الله عليه وسلم د مؤمن هغه صفات بيان کړى دي چي مؤمن ورباندي برياليتوب ته رسيږي او اصلا يې وصيت دئ، چي مؤمن دغه صفات په ځان کښي پيدا کړي هغه صفات په لاندي روايت کښي بيان سوى دي:**

عن أبي هريرة - رضي الله عنه- قال: قال الرسول - صلى الله عليه وسلم-: ((المؤمن القوي خير وأحبّ إلى الله من المؤمن الضعيف، وفي كلٍ خير، احرص على ما ينفعك، واستعن بالله ولا تعجز، وإن

[١]: رواه النسائي. انظر حديث رقم (٥٨٢٠) في صحيح الجامع.

أصابك شيء فلا تقل لو أني فعلت كان كذا وكذا، ولكن قل: قدّر الله وما شاء فعل، فإنّ لو تفتح عمل الشيطان)). [1]

ژباړه: ابوهريرة رضي الله عنه روايت كوي، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

ځواكمن مؤمن ښه دئ او (ځواكمن مؤمن) د الله جل جلاله تر ضعيف مؤمن خوښ دئ. (بناء مؤمن بايد د خپل صحت خيال وساتي او ځان ځواكمن انسان جوړ كړي، داسي نه ده چي ضعيف مؤمن بد دئ بلكي رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خبره زياته كړې ده چي:) په دواړو كښي خير سته، كوم شى چي تا ته ګټه رسوي د هغه په طلب كښي حرص كوه او د الله جل جلاله څخه كومک غواړه (د خير په طلب او د الله جل جلاله څخه په مرسته غوښتلو) كښي ځان مه عاجزه كوه او كه كومه پېښه درته وسوه نو دا مه وايه چي كاشكي فلان او فلان كار مي كړى واى (نو د دغه پيښي څخه به خلاص سوى واى) بلكي داسي ووايه: دا پيښه الله جل جلاله په تقدير كښي ليكلې وه او د الله جل جلاله چي څه خوښه وي هغسي كوي (او كه داسي ونه وايي) نو په يقيني ډول دي شيطان ته لار (د خپلي دوكه كېدو لپاره) لار خلاصه كړې ده.

## شپاړسم وصيت

### د بخل بدي

رسول الله صلى الله عليه وسلم د ظلم او بخل څخه په لاندي روايت كښي منع كړې ده:

عن جابر بن عبد الله - رضي الله عنه- أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم- قال: ((اتّقوا الظلم فإن الظلم ظلمات يوم القيامة، واتقوا الشُّحّ

[1]: رواه مسلم برقم (٤٨١٦).

فإنّ الشُّحّ أهلك من كان قبلكم، حملهم على أن سفكوا دماءهم، واستحلّوا محارمهم)) . [۱]

ژباړه: د جابر رضي الله عنه څخه روايت چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

د ظلم څخه ځان وساتئ باور وکړئ، چي ظلم د قيامت په ورځ توري تياري دي او د بخل څخه ځان وساتئ پخوانۍ قومونه (چي بخل به يې کاوه همدې) بخل هڅولي دي، چي خپليويني توی کړي او هغه کارونه ځان ته حلال کړي چي پر دوی حرام وه.

## اوولسم وصيت:

### ځان، اولاد او مال ته ښراوي مه کوئ!

رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښراوو څخه منع کړې په لاندي روايت کښي يې وضاحت سوی دئ:

عن جابر - رضي الله عنه- قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم-: ((لا تدعوا على أنفسكم، ولا تدعوا على أولادكم، ولا تدعوا على أموالكم، لا توافقوا من الله ساعة يُسأل فيها عطاء فيستجيب لكم)) [۲]

ژباړه: د جابر رضي الله عنه څخه روايت چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

تاسو ځانونو، اولادونو او مالونو ته ښراوي مه کوئ داسي ونه سي چي ستاسو ښرا د هغه وخت سره برابره سي، چي تاسو يو شی پکښي وغواړئ، هغه ستاسو لپاره قبول سي.

---

[۱]: رواه مسلم برقم (٤٦٧٥).

[۲]: رواه أبو داود، وقال الشيخ الألباني: صحيح انظر حديث رقم (١٥٠٠) في صحيح الجامع.

## وضاحت:

کله، کله يو کس د غضب په وخت کښې وي نو د قهره ځان ته ښرا وکړي، کله يې اولاد ته وکړي او کله يې مال ته وکړي رسول الله صلی الله عليه وسلم د دغه کار څخه منع کړې ده ځکه ځيني داسي وختونه سته، چي بنده هر شي وغواړي الله جل جلاله يې غوښتنه قبلوي نو داسي نه چي په دغه وخت کښې ښرا وکړې او هغه قبوله سي نو بيا به دي ځان ته تاوان رسولی وي.

## اتلسم وصيت

### د اوو هلاکونکو شيانو څخه ځانونه وساتئ!

د رسول الله صلی الله عليه وسلم يو ستر وصيت په لاندي روايت کښې راغلی دئ، چي د داسي شيانو څخه منع پکښې سوې ده کوم چي د انسان د معنوي بربادۍ سبب ګرځي خو په ظاهره انسان نه پوهيږي:

عن أبي هريرة - رضي الله عنه- عن النبي - صلى الله عليه وسلم- قال: ((اجتنبوا السبع الموبقات)) قالوا: يا رسول الله وما هُنّ؟ قال: ((الشرك بالله، والسحر، وقتل النفس التي حرّم الله إلا بالحق، وأكل الربا، وأكل مال اليتيم، والتوليّ يوم الزحف، وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات)) . [1]

ژباړه: ابوهريرة رضي الله د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي، چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

د اوو (۷) هلاک کوونکو شيانو څخه ځانونه وساتئ! چا پوښتنه وکړه، چي دغه اووه شيان څه شي دي؟ يا رسول الله ﷺ! ده مبارک ﷺ وفرمايل: د الله جل جلاله سره شريک نيول، سحر (يعني جادو) کول، انسان

[1]: رواه البخاري برقم (۲٥٦۰).

وژل مګر په حق سره، ريا کول، د يتيم مال خوړل، د جهاد په وخت کي تېښته کول او پاکو مؤمنانو ښځو ته د زنا نسبت کول.

## نوولسم وصيت

### معنوي حفاظت

د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو مبارک وصيت د معنوي حفاظت په اړه دئ چي په لاندي روايت کښي راغلى دئ:

عن البراء بن عازب - رضي الله عنه- قال: قال النبي - صلى الله عليه وسلم-: ((إذا أتيت مضجعك فتوضأ للصلاة، ثم اضطجع على شقك الأيمن، ثم قُل: اللهم أسلمت وجهي إليك، وفوضت أمري إليك، وألجأت ظهري إليك، رغبة ورهبة إليك، لا ملجأ ولا منجا منك إلا إليك، اللهم آمنت بكتابك الذي أنزلت، وبنبيّك الذي أرسلت، فإن مُتَّ من ليلتك فأنت على الفطرة، واجعلهنّ آخر ما تتكلم به، قال: فرددتها على النبي -صلى الله عليه وسلم- فلما بلغتُ: اللهم آمنت بكتابك الذي أنزلت، قلت: ورسولك؟ قال: لا ونبيّك الذي أرسلت)). [1]

ژباړه: د براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله، چي د پرېوتو ځاى ته راغلې نو اودس تازه کړه بيا پر راسته اړخ پرېوزه او دا کلمات ووايه:

اللهم أسلمت وجهي إليك، وفوضت أمري إليك، وألجأت ظهري إليك، رغبة ورهبة إليك، لا ملجأ ولا منجا منك إلا إليك، اللهم آمنت بكتابك الذي أنزلت، وبنبيّك الذي أرسلت، فإن مُتَّ من ليلتك فأنت

[1]: رواه البخاري برقم (٢٣٩).

على الفطرة، واجعلهنّ آخر ما تتكلم به، قال: فرددتها على النبي -صلى الله عليه وسلم- فلما بلغتُ: اللهم آمنت بكتابك الذي أنزلت، قلت: ورسولك؟ قال: لا ونبيّك الذي أرسلت)).

## شلم وصيت

**په کلمه طيبه ويلو سره شفاعت تر لاسه کړئ**

**که څوک کلمه طيبه وايي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شفاعت نېکمرغي به تر لاسه کړي.**

**رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:**

عن ابي هريرة ﷺ قال قلت يارسول الله من اسعدالناس بشفاعتک يوم القيمة ؟ قال رسول الله ﷺ لقد ظننت ياابو هريرة ان لا يسئلنى عن هذا الحديث احد، اول منک لمارأيت من حرصک على الحديث اسعد الناس بشفاعتي يوم القيمة من قال لا اله الا الله خالصاً من قلبه او نفسه.( ١ )

**ژباړه**: **حضرت ابو هريرة ﷺ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دقيامت په ورځ به ستاسو د شفاعت تر ټولو زياته فائده پورته کونکی څوک وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: ستا حرص مي پر حديثو باندي وليدی نو دا ګمان مي وو چي ددې خبري پوښتنه به ستا څخه مخکي بل څوک نه وکړی. (بيا رسول الله ﷺ ورته دسوال جواب وفرمايه) : هغه**

---

(١ ) رواه البخاري وقد اخرجه الحاكم بمعناه و ذكر صاحب بهجة النفوس في الحديث اربعا وثلثين بحثاً

کس به زما د شفاعت تر ټولو زيات سعادتمن او فائده پورته کونکی وي چي د زړه په اخلاص سره لااله الا الله وايي.

**فائده**: سعادت دالله ﷻ هغه توفيق ته وايي چي دبنده د خير و طرف ته درسولو سبب وګرځي.

د کلمې د ويونکي تر ټولو زيات دشفاعت د حقدار کېدو دوه مطلبه کېدای سي:

يو دا چي ددې حديث څخه هغه کس مراد دی چي په اخلاص سره مسلمان سوی وي او د کلمې طيبې دويلو څخه ماسوا د هغه سره بل نېک عمل نه وي په دې حالت کښي ښکاره ده چي د ټولو سعادت ده ته په شفاعت سره حاصلېدای سي ځکه خپله خو ورسره عمل نسته.

لکه چي بل ځای فرمايي: ( زما شفاعت زما د امت د کبيره يعني) ګناهونو کونکو لپاره دی.

هغوی به د خپلو ګناهونو په وجه په دوزخ کښي واچول سي خو د کلمې طيبې له برکته به درسول الله ﷺ شفاعت د هغوی په نصيب سي.

دوهم مطلب دادی: د شفاعت زيات حقدار هغه خلګ دي چي په اخلاص سره ددې کلمې وظيفه کوي او نېک عملونه کوي درسول اللهﷺ د شفاعت څخه به ډېره فائده و دوی ته رسيږي چي د درجو دلوړېدو سبب به يې جوړيږي.

## يوويشتم نبوي وصيت

### د علم حاصلولو ګټې

رسول الله صلی الله عليه وسلم د علم فضيلت بيان کړی دئ ټول امت ته يې وصيت دادئ، چي د علم د فضيلت څخه ځان برخمن کړي ، د رسول الله صلی الله عليه څخه روايت دئ:

عن أبي الدرداء - رضي الله عنه - قال: سمعت رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يقول: «من سلك طريقًا يطلب فيه علمًا، سلك الله به طريقًا من طرق الجنة، وإن الملائكة لتضع أجنحتها لطالب العلم رضًا بما يصنع، وإن العالم ليستغفر له من في السموات ومن في الأرض والحيتان في جوف الماء، وإن فضل العالم على العابد كفضل القمر ليلة البدر على سائر الكواكب، وإن العلماء ورثة الأنبياء، وإن الأنبياء لم يورثوا دينارًا ولا درهمًا، إنما ورثوا العلم، فمن أخذه أخذ بحظ وافر».[١]

**ژباړه: دا بودرداء رضي الله عنه څخه روايت دئ، دی مبارک فرمايي: ما** درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل، چي ويل يې: څوک که داسي لاره په کار واچوي (او ورباندي روان سي) ، چي طلب د علم پکښي کوي الله جل جلاله به د جنت لاره ورته خلاصه کړي او د اخبره يقيني ده، چي ملائکي د علم د طلب کونکو لپاره خپل وزرغوړوي دده د راضي کولو لپاره (يا داچي دده د علم په طلب باندي ملايکي راضي دي دەته عزت ورکوي)، باور وکړئ چي د عالم لپاره هرهغه څوک د مغفرت طلب کوي چي په اسمانونو او مځکه کي دي تر داسي اندازې، چي په درياب کي ماهيان هم د مغفرت طلب ورته کوي، حقيقت دادئ، چي د عالم فضيلت پر عابد باندي دومره زيات دئ لکه د څوارلسم سپوږمۍ، چي پر نورو ستورو باندي بهتره ده، باور وکړئ، چي علماء د انبياوو وارثان دي، انبياوو سره او سپين زر نه دي پري ايښي بلکي علم يې په ميراث پرې ايښی دئ، چي علم لاسته راوړی نو د انبياوو د ميراث لويه برخه يې تر لاسه کړه.

١ : [عن أبي الدرداء والترمذي وابن حبان في صحيحه]

# د علم سره د بزرګانو د محبت ځيني حالات

**د حضرت ابودرداء رضي الله عنه د علم سره محبت:**

حضرت ابو درداءﷺ په هغه اصحابانو کي دی چي په فقه کښي پوهېدی او ده ته حکيم الامت (دامت پوه) ويل سوي دي .ده مبارک فرمايلي دي : مادنبيﷺ دنبوت په وخت کي تجارت کاوه دمسلمانېدو وروسته مي وغوښتل چي تجارت اوعبادت دواړه وکړم خودواړه نه سره کېده نوتجارت مي پرېښودی اوس مي زړه داسي دی : که چيري دمسجد په دروازه کي مي دکان وي يولمونځ هم نه راڅخه قضاکېږي ، دورځي ځلوېښت ديناره وګټم اوبيا يې صدقه کړم لامي هم تجارت نه خوښيږي .يوچاپوښتنه ځني وکړه:چي ولي دي داسي تجارت نه خوښيږي چي لمونځ هم نه درڅخه قضا کېږي اوهره ورځ دومره ګټه هم کوي بيايې دا اللهﷻ په لاره کي خرڅوي؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل : حساب خوغواړي . (۱)

**د علم لپاره د بزرګانو سفرونه:**

دعلم سره مينه لرونکو حضراتو دعلم لاسته راوړلولپاره ډېر لوی او اوږده سفرونه کړي دي سعيدبن المسيب(رحمة الله عليه) يو نوموتي تابعي دی ، دی مبارک فرمايي : زه ديوه حديث شريف لپاره څو ورځي او شپې پياده(پلي ) تللی يم.

عبدالله بن مبارک ټول کتابونه په کوچنوالي يادکړل کوم حديثونه چي په خپل ښارکي لاسته ورتلل هغه يې زده کول بيايې په سـنه ۲۱۶ه کي سفرپيل کړی دده مبارک پلار وفات سوی وو دی يتيم وو په سفرکي يې مور ورسره ملګرې وه د سفرونو په سلسله کښي يې بلخ ، بغداد ، مکې مکرمې ، بصرې ، کوفې ، شام ، عسقلان ، حمص او دمشق ښارونوته

---

(۱) تذکره

سفرونه وکړل او هر ځای چي به د حديثو ذخيره لاس ته ورتله په لاس يې راوړل په داسي کشرتوب کي د حديثو استاذ سو چي پرمخ يې د ږيري ورېښته نه وو.

ابن مبارک رحمه الله فرمايي : زه د اتلس کالو وم چي ما اصحابانو او تابعينو د فيصلو نومی کتاب جوړ کړی.

ابن فرات بغدادي (رحمة الله عليه) چي کله وفات سو اتلس ۱۸ صندوقه کتابونه څني پاته سوه چي په دغه کتابو کي يې اکثره په خپل قلم ليکلي وه ستره خبره لا داده چي د محدثينو په آند د نقل په صحت او ښه والي کي د ده ليکل سوی ښه دليل دی .

ابن جوزي (رحمة الله عليه) يو نوموتی محدث دی د ده مبارک پلار د ده په دري کلنی کي وفات سو ده مبارک ديتيم والي په حالت کښي وده وکړه. مګر د تکليف ايستلو يې دا حال وو چي د جمعې دلمانځه پرته به بل چيري د کور څخه ليري نه تلی يوه ورځ يې پر منبر وويل: ما په دغه خپلو ګوتو دوه زره (۲۰۰۰) جلده ليکلي دي په دې کي تر دوه نيم سوه (۲۵۰) کتابونو زيات د ده خپل وه.

د درس يې دا سي حالت وو چي په يو وخت کي د ده شاګردان کي سل زره اټکل سوي دي . اميران ، پاچاهان او وزيران به د ده د درس په مجلس کي حاضره وه.

دارقطني (رحمه الله) د حديثو يو مشهور مؤلف دی د حديثو د زده کړي لپاره يې بغداد ، بصرې ، کوفې ، واسط ، مصر او شام ته سفرونه کړي دي ، يوه ورځ د استاذ په مجلس کي ناست وو استاذ حديث لوستی ده يو شی د کتاب څخه نقل کاوه يوه ملګري يې نيوکه باندي وکړه چي ته بلي خوا ته متوجه يې ده ورته وويل: زما او ستا په توجه کي فرق دی ته راوښايه چي استاذ تر اوسه پوري څو مره حديثونه وويل ملګري يې په فکر کي ډوب

سو ده ورته وويل: استاذ اتلس ۱۸ حديثونه وويل لومړی داوو ، دوهم داوو په دغه ترتيب يې ټوله حديثونه سره دسنده ورته وويل .

## دوويشتم نبوي وصيت

### د سجدې ګټې

په نبوي وصيتونو کښې يو د ګټي او مهم وصيت د سجدې کولو دئ، يعني داچي څوک لمونځ ډېر کوي، څو ډيري سجدې پکښې وسي ، په ښه خشوع ، خضوع او خاص فکر باندي سجدې وکړې.

په يوه روايت کي راځي:

عن معدان بن أبي طلحة - رضي الله عنه - قال: لقيت ثوبان مولى رسول الله - صلى الله عليه وسلم -. فقلت: أخبرني بعمل أعمله يدخلني الله به الجنة، أو قال: قلت: بأحب الأعمال إلى الله فسكت، ثم سألته فسكت، ثم سألته الثالثة فقال: سألت عن ذلك النبي - صلى الله عليه وسلم -، فقال: «عليك بكثرة السجود، فإنك لا تسجد لله سجدة إلا رفعك الله بها درجة، وحط عنك بها خطيئة». [1]

ژباړه: معدان بن ابي طلحة رضي الله عنه فرمايي: زه د ثوبان رضي الله عنه سره ملاقي سوم کوم، چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم ازاد کرده شده مريی وو ، ما ورته وويل: ماته يو داسي عمل را وښيه چي جنت ته مي داخل کړي، يا يې په داسي الفاظو ورته وويل: ماته داسي عمل راوښيه، چي الله جل جلاله ته ډېر خوښ وي، ثوبان رضي الله عنه چوپ سو ، ما بيا پوښتنه ځني وکړه دی بيا چوپ سو ، بيا مي دريم ځل پوښتنه ځني وکړه، ده راته وويل: ما دغه پوښتنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه کړې ده ، رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: ډېر سجدې

---

[1] : رواه مسلم والترمذي عن ثوبان وأبي الدرداء.

کول پر ځان لازم کړه، دا خبره یقیني ده، چې د هري سجدې په بدله کښې الله جل جلاله ستا یوه درجه در لوړوي او ستا یوه خطا معافوي.

په بل روایت کې راځي:

عن عبادة بن الصامت - رضي الله عنه - أنه سمع النبي - صلى الله عليه وسلم - يقول: «ما من عبد سجد لله سجدةً، إلا كتب الله له بها حسنةً، ومحا عنه بها سيئةً، ورفع له بها درجة، فاستكثروا من السجود».[1]

ژباړه: د عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دئ، چې ده مبارک د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي، چې فرمایل یې: هیڅ داسي بنده نسته، چې الله جل جلاله ته سجده وکړي مګر الله جل جلاله د هغه سجدې په بدله کښې یوه نیکې ورته لیکي، یوه خطا ځني لیري کوي او یوه درجه ور لوړوي نو تاسو ډېري سجدې کوئ.

په بل روایت کې راځي:

الثاني: عن حذيفة - رضي الله عنه - قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم-: «ما من حالة يكون عليها العبد أحب إلى الله من أن يراه ساجدًا يعفر وجهه في التراب».[2]

ژباړه: حذیفة رضي الله عنه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د بنده هیڅ حال الله جل جلاله ته دومره خوښ نه دئ لکه بنده چې د سجدې پر مهال وویني خپل تندی یې په خاورو سپېره وي.
(یعني دا چې الله جل جلاله ته بنده په ټولو حالاتو کې د سجدې حالت ښه خوند ورکوي، چې بنده خپل رب جل جلاله ته پر سجده پروت وي)

---

[1] : رواه ابن ماجه بإسناد صحيح

[2] : رواه الطبراني في الأوسط

## د رسول الله صلى الله عليه وسلم سجده

رسول الله صلى الله عليه وسلم به سجده اوږدول، د عايشې بي بي رضي الله عنها څخه روايت دئ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به يوولس رکعته نفل کول (يعني د تهجد لمونځ به يې يوولس رکعته کاوه) او په لمانځه کښي به يې سجده دومره اوږدول، چي په دغه وخت کښي پنځوس اياتونه ويل کيږي.[1]

## رسول الله صلي الله عليه وسلم به د قيامت په ورځ خپل امتيانو د دنيا په سجدو پېژني

يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ زه د خپل امت هر کس پېژنم ، اصحابانو عرض وکړ، چي يا رسول الله! د قيامت په ورځ به په دې دومره خلکو کي ته دوی څنګه وپېژنې؟ که چيري د تورو اسانو يوې ډلي ته داخل سې او په دې تورو اسانو کښي يو داسي آس وي، چي سپين تندی او سپيني پښې يې وي ، ايا ته يې ددې نورو څخه نه پېژنې؟ دوی ورته وويل: هو! يا رسول الله! رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زما امت هم دغسي دئ، تنديان به يې د سجدو په وجه ځليږي او پښې به يې د اودسو په وجه ځليږي.[2]

---

[1] : عن عائشة -رضي الله عنها- أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - كان يصلي إحدى عشرة ركعة كانت تلك صلاته فيسجد السجدة من ذلك قدر ما يقرأ أحدكم خمسين آية قبل أن يرفع رأسه، ويركع ركعتين قبيل صلاة الفجر، ثم يضطجع على شقه الأيمن حتى يأتيه المؤذن للصلاة. [رواه البخاري].

[2] : قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: "ما من أمتي من أحد إلا وأنا أعرفه يوم القيامة" قالوا: وكيف تعرفهم يا رسول الله في كثرة الخلائق؟ قال: "أرأيت لو دخلت صبرة فيها خيل دهم بهم، وفيها فرس أغر محجل أما كنت تعرفه منها؟ " قالوا: بلى، قال: (فإن أمتي يومئذ غر من السجود محجلون من الوضوء" [رواه أحمد].

# درویشتم نبوي وصیت

## د صدقې ورکولو ګټې

رسول الله صلی الله علیه وسلم د صدقې کولو وصیت کړی دئ سرهددې، چې په دنیا کښې هم معنوي ګټې لري لکه په مال کښې برکت او د ناداره خلکو دعاوي- په قبر او اخرت کښې هم خورا لويې ګټې لري لکه چې په روایت کښې راځي:

عَنْ مُعَاذٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِي عَنِ النَّارِ. قَالَ: " لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ أَمْرٍ عَظِيمٍ، وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ: تَعْبُدُ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ "، ثُمَّ قَالَ: " أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الْخَيْرِ؟ الصَّوْمُ جُنَّةٌ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ...الحديث ١

ژباړه: معاذ رضي الله عنه فرمايي: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: اې دالله رسوله! ما ته داسي عمل را وښیه چي جنت ته مي بوزي او د دوزخ د اور څخه مي ليري کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمايل: دا دي يقيني د ډېر لوی کار پوښتنه وکړه او باور وکړه چي دا کار پر هغه چا اسانه دئ، چي الله جل جلاله يې ورته اسانه کړي (هغه عمل دادئ:) د الله جل جلاله عبادت کوه او هيڅ شی مه ورسره شريکوه، لمونځ کوه، زکات ورکوه، د روژې د مياشتي روژه نيسه. بيا يې راته وويل: د خير دروازې ته درته ونه ښيم؟

روژه سپر ده او صدقه ورکول ګناهونه له منځه وړي لکه اوبه چي اور له منځه وړي.

په بل روایت کښې بيا داسي الفاظ راغلي دي:

---

١ : رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. بحوالة مرقاة المفاتيح:١٠٣١١

«إن الصدقة لتطفئ عن أهلها حر القبور، إنما يستظل المؤمن يوم القيامة في ظل صدقته» ۱

ژباړه: باور وکړئ، چي صدقه د صدقه ورکونکو څخه د قبر ګرمي له منځه وړي او دا خبره هم يقيني ده، چي مؤمن مسلمان به د قيامت په ورځ (دسختي ګرمۍ پرمهال) د خپلي صدقې تر سيوري لاندي وي (يعني داچي کومه صدقه چي په دنيا کښي يې ورکړې ده د هغې څخه به يو سايوان جوړ سي او د قيامت په ورځ به صدقه ورکونکی تر دغه سايوان لاندي وي)

## څلورويشتم نبوي وصيت

### د څاښت نفل او درې روژې

ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي:
ما ته خپل اشنای (رسول الله صلی الله عليه وسلم) وصيت کړی دئ چي د هري مياشتي څخه به درې روژې نيسم، د څاښت دوه رکعته نفل به کوم او تر بيدېدو مخکي به وتر کوم.[2]
همدا ډول په يوه بل روايت کښي ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي:
ماته خپل اشنای (رسول الله صلی الله عليه وسلم) د درو شيانو وصيت کړی دئ چي هيڅ کله به يې نه پرېږدم (هغه درې شيان دادي:)
۱: تر وترو کولو مخکي به نه بيدېږم.

---

۱ : [رواه الطبراني في الكبير والبيهقي عن عقبة بن عامر]

۲ : عن أبي هريرة - رضي الله عنه - قال: أوصاني خليلي محمد - صلى الله عليه وسلم - بصيام ثلاثة أيام من كل شهر وركعتي الضحى، وأن أوتر قبل أن أنام. [رواه البخاري ومسلم وأبو داود، ورواه الترمذي ونحوه]

۲: د ځاښت دوه رکعته نفل به نه پرېږدم دغه لمونځ په يقيني ډول د اوابينو لمونځ دئ.
۳: د هري مياشتي څخه به دري روژې نيسم.[١]

## پنځويشتم نبوي وصيت
### دشرک څخه ځان ساتل

عبادة بن صامت رضي الله عنه فرمايي:
ما ته خپل اشناى (رسول الله صلى الله عليه وسلم) داوو شيانو وصيت کړى دئ بيا يې وويل (هغه شيان په لاندي ډول دي:)
۱: د الله جل جلاله سره سره شريک مه نيسئ که څه لاسونه او پښې مو پرې کيږي، يا سوځل کيږئ او يا هم په دار ځړول کيږئ.
۲: په قصدي ډول په هيڅ صورت لمونځ مه پرېږدئ که چا په قصدي ډول لمونځ قضاء کړ په يقيني ډول د (محمدي) ملت څخه ووتى.
۳: هيڅکله ګناه مه کوئ ځکه په ګناه کښي د الله جل جلاله نا راضي ده.
۴: شراب مه څښئ ځکه شراب د ټولو خطاوو سرچينه ده.
۵: د مرګ څخه تېښته مه کوئ که څه هم پکښي واقع ياست.
۶: د مور او پلار څخه بغاوت مه کوئ او که درته ووايي چي د ټولي دنيا څخه ووزه نو ووزه!

---

[١] : وفي رواية أخرى عنه - رضي الله عنه - قال: أوصاني خليلي - صلى الله عليه وسلم - بثلاث لست بتاركهن: أن لا أنام إلا على وتر، وأن لا أدع ركعتي الضحى، فإنها صلاة الأوابين، وصيام ثلاثة أيام من كل شهر. [رواه ابن خزيمة]

۷: د خپلي کورنۍ څخه د ادب لکړه مه پورته کوه او د خپل لوري څخه ددوی سره د انصاف معامله کوه.[۱]

د رسول اللهﷺ څخه روایت دئ، چي رسول الله اصحابو کرامو رضي الله عنهم ته وفرمایل: آیا زه تاسو ته تر ټولو په لویه ګناه خبر در نه کړم؟ رسول اللهﷺ درې ځله دغه خبره تکرار کړه. اصحابو کرامو رضي الله عنهم وویل: خبر مو کړه یا رسول اللهﷺ! رسول اللهﷺ وفرمایل: لاندي شیان تر ټولو لوي ګناهونه دي:

۱: د الله جل جلاله سره شریک نیول.

۲: د مور او پلار ازارول.

د حدیث روایت کوونکی وایي: رسول اللهﷺ تکیه وهلې وه د درېیم شي په ښوولو سره راکښېناستي او ويې فرمایل: خبر اوسئ! ناحقه خبره او ناحقه شاهدي لویه ګناه ده، دا خبره يې تکرارول تر داسي بریده چي موږ وویل: کاشکي يې دا خبره پرې ایښې وای.[۲]

---

[۱] : عن عبادة بن الصامت - رضي الله عنه - قال: أوصاني خليلي رسول الله - صلى الله عليه وسلم - بسبع خصال، فقال: «لا تشركوا بالله شيئًا وإن قطعتم أو حرقتم أو صلبتم، ولا تتركوا الصلاة متعمدين فمن تركها متعمدًا فقد خرج من الملة، ولا تركبوا المعصية فإنها سخط الله، ولا تشربوا الخمر فإنها رأس الخطايا كلها، ولا تفروا من الموت وإن كنتم فيه، ولا تعص والديك وإن أمراك أن تخرج من الدنيا كلها فاخرج، لا تضع عصاك عن أهلك وأنصفهم من نفسك».
[رواه الطبراني ومحمد بن نصر بإسنادين لا بأس بهما]

[۲] و عن أَبي بكرة نُفَيع بن الحارث رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُول الله ﷺ : أَلا أُنَبِّئُكُمْ بأَكْبَرِ الكَبَائِرِ؟ ثلاثاً قُلْنَا: بَلَى! يَا رَسُول الله! قَالَ :الإشْرَاكُ بالله، وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ، وكان مُتَّكِئاً فَجَلَسَ، فَقَالَ: أَلاَ وَقَوْلُ الزُّورِ وَشَهَادَةُ الزُّورِ فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا: لَيْتَهُ سَكَتَ. (أخرجه البخاري: ۲۲٥/۳ (۲٦٥٤ )، ومسلم: ٦٤/١ ( ۸۷ ) ( ١٤٣))

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د اوو هلاک کوونکو شيانو څخه ځان وساتئ د دغو اوو شيانو په لړ کي رسول الله ﷺ يو شرک ذکر کړئ.[1]

## شپږويشتم نبوي وصيت

### په قصدي توګه لمونځ مه قضا کوئ!

د لمانځه نه کوونکی په اړه رسول اکرم ﷺ فرمايي:

تاسو لمونځ مه پرېږدئ، څوک چي په قصدي ډول لمونځ پرېږدي د الله ﷻ د ذمې څخه ووځي.[2]

څوک چي د الله ﷻ په ذمه کي نه وي هغه کس د دنيا او آخرت د تکليفونو څخه ځان نه سي ساتلای.

لمونځ چي تر ډيرو عملونو ښه عبادت دئ او د الله ﷻ رضا پکښي نغښتې ده ځکه نو د قيامت په ورځ چي حساب پيل سي الله ﷻ لومړی د لمانځه پوښتنه کوي، ځکه رسول ﷺ فرمايي:

[1] وعن أَبي هريرة رضي الله عنه عن النبيِّ ﷺ قَالَ: اجْتَنِبُوا السَّبْعَ المُوبِقَاتِ ! قالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَمَا هُنَّ؟ قَالَ: الشِّرْكُ باللهِ، والسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتي حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بالحَقِّ، وأكلُ الرِّبَا، وأكْلُ مَالِ اليَتِيمِ، والتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وقَذْفُ المُحْصَنَاتِ المُؤْمِنَاتِ الغَافِلاَتِ. (أخرجه البخاري: ۱۰۱۷/۳، رقم: ۲٦۱۵، ومسلم: ۹۲/۱، رقم: ۸۹، وأبو داود: ۱۱۵/۳، رقم: ۲۸۷٤، والنسائى: ۲۵۷/٦، رقم: ۳٦۷۱. و أخرجه أيضًا ابن حبان: ۳۷۱/۱۲، رقم: ۵۵٦۱، والبيهقى: ۲۸٤/٦، رقم: ۲٤٤۷)

[2] لا تتركن الصلاة متعمدا فإنه من ترك الصلاة متعمدا فقد برئت منه ذمة الله و رسوله. (أحمد عن أم أيمن. أخرجه أحمد: ٤۲۱/٦، رقم: ۲۷٤۰٤، قال الهيثمى: ۲۹۵/۱ رجاله رجال الصحيح إلا أن مكحولا لم يسمع من أم أيمن.

لومړی شی چي د بنده سره يې د قيامت په ورځ حساب کېږی لمونځ دئ، د چا چي لمونځ صحيح وي خلاص او کامياب به وي، د چا چي لمونځ نيمګړی وي خاوري په سر او تاواني به وي.[(۱)]

په بل ځای کي رسول ﷺ لمونځ پرېښوونکی د توري اوويني تويوني څخه خلاص نه دئ بللی، بلکي د هغه په قتل يې امر کړی دئ او داسي فرمايي: زه په دې امر سوی يم چي تر هغه به د خلګو سره جنګېږم تر څو خلګ د "لااله الا الله" کلمه وايي، لمونځ کوي او زکات ورکوي. کله چي دوی دغه کارونه وکړل نو زما څخه يېويني او مالونه په امن دي مګر په حق سره او حساب يې پر الله ﷻ دئ.[(۲)]

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پنځه لمونځونه دي څوک چي يې حفاظت کوي لمونځ به د ده لپاره د قيامت په ورځ نور او دليل وي او هم به د ده لپاره د دوږخ څخه خلاصون وي. څوک چي د لمانځه حفاظت نه کوي د قيامت په ورځ به د ده لپاره نه نور او نه دليل او نه به هم د ده د دوږخ څخه خلاصون وي، بلکي د فرعون، قارون، هامان، او ابی بن خلف سره به په دوږخ کي وي.[(۳)]

---

(۱) وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قال رَسُول اللهِ ﷺ: إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاَتُهُ، فَإِنْ صَلَحَتْ، فَقَدْ أَفْلَحَ وأَنْجَحَ، وَإِنْ فَسَدَتْ، فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ. (أخرجه الترمذي: ۴۱۳، والنسائي: ۲۳۲/۱، وفي "الكبرى" له: ۳۲۵ . قال الترمذي : حديث حسن غريب.

(۲) أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأنى رسول الله، ويقيموا الصلاة، ويؤتوا الزكاة، فإذا فعلوا ذلك عصموا منى دماءهم وأموالهم إلا بحق الإسلام وحسابهم على الله. (أخرجه ابن حبان: ۴۰۱/۱، رقم: ۱۷۵)

(۳) خمس صلوات من حافظ عليهن كانت له نورًا وبرهانًا ونجاة يوم القيامة، ومن لم يحافظ عليهن لم يكن له نور يوم القيامة ولا برهان ولا نجاة وكان يوم القيامة مع فرعون وقارون وهامان وأبى بن خلف. (أخرجه محمد بن نصر فى تعظيم قدر الصلاة: ۱۳۳/۱)

# اوويشتم نبوي وصيت

## دمور او پلار نافرماني نه کول

عبادة بن صامت رضي الله عنه فرمايي:
ما ته خپل اشناى (رسول الله صلى الله عليه وسلم) داوو شيانو وصيت کړى دئ بيا يې وويل (يو يې پکښي دادئ:).....د مور او پلار څخه بغاوت مه کوئ او که درته ووايي چي د ټولي دنيا څخه ووزه نو ووزه!...الحديث.[1]

رسول الله صلى الله عليه وسلم درې ځلی داسي ارشاد وفرمايه: آيا زه تاسو تر ټولو په لويو ګناهونو باندي خبر نه کړم؟ مبارکو اصحابانو وويل: بلې! خبر مو کړه يا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ وفرمايل: (تر ټولو لوي ګناهونه) د الله جل جلاله سره شريک نيول دي، د مور او پلار آزار دئ.[2]

[1] : عن عبادة بن الصامت - رضي الله عنه - قال: أوصاني خليلي رسول الله - صلى الله عليه وسلم - بسبع خصال، فقال: «لا تشركوا بالله شيئًا وإن قطعتم أو حرقتم أو صلبتم، ولا تتركوا الصلاة متعمدين فمن تركها متعمدًا فقد خرج من الملة، ولا تركبوا المعصية فإنها سخط الله، ولا تشربوا الخمر فإنها رأس الخطايا كلها، ولا تفروا من الموت وإن كنتم فيه، ولا تعص والديك وإن أمراك أن تخرج من الدنيا كلها فاخرج، لا تضع عصاك عن أهلك وأنصفهم من نفسك».
[رواه الطبراني ومحمد بن نصر بإسنادين لا بأس بهما]

[2] عن عبد الرحمن عن أبيه قال: قال رسول الله ﷺ: ألا أنبئكم بأكبر الكبائر -ثلاثاً-؟ قلنا: بلى! يا رسول الله! قال: الإشراك بالله، وعقوق الوالدين، وكان متكئاً فجلس، فقال: ألا وقول الزور، وشهادة الزور، فما زال يكررها حتى قلنا: ليته سكت! (البخاري: ۲۲۲۹/۵، رقم: ۵۶۳۱، ومسلم: ۹۱/۱، رقم: ۸۷، والترمذي: ۳۱۲/٤، رقم: ۱۹۰۱، وقال: حسن صحيح)

په یو بل حدیث کي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: جنت ته به چغلګر، د مور او پلار آزاري او د شرابو چيښونکی داخل نه سي. (۱)
څرنګه چي د مور او پلار آزار ډېر لوی جرم دئ له همدې امله الله جل جلاله د مور او پلار آزاري ته په دې دنيا کي هم عذاب ورکوي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايي: د ټولو ګناهونو عذاب الله جل جلاله د آخرت ورځي ته ځنډوي. چا ته چي يې خوښه سي (هلته عذاب ورکوي او چا ته به يا معافي کوي که يې خوښه سوه)، مګر د مور او پلار آزاري ته الله جل جلاله ډېر ژر په ژوند کي تر مرګ مخکي عذاب ورکوي. (۲)

## اتویشتم نبوي وصيت

### شراب مه څښئ!

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د شرابو څخه ځانونه وساتئ ځکه دا خبره يقيني ده، چي شراب د ټولو شرونه کيلي ده. (۳)
څوک چي ځان ځني و نه ساتي د ټولو شرونه دروازه به باندي راخلاصه سي بيا به د الله جل جلاله په نافرمانۍ کي ولوېږي په دغه نافرمانۍ سره به د عذاب څخه برخمن سي.

---

(۱) عن ابن عمر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لا يدخل الجنة منان، ولا عاق، ولا مدمن خمر. (أخرجه النسائي: ۳۱۸/۸، رقم: ۵۶۷۲)

(۲) عن أبي بكرة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: كل الذنوب يؤخر الله ما شاء منها إلى يوم القيامة إلا عقوق الوالدين فإن الله تعالى يعجله لصاحبه في الحياة قبل الممات. (هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه الحاكم في مستدركه، ج: ٤، ص: ۱۷۳، ح: ۷۲٦۳)

(۳) عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: اجتنبوا الخمر فإنها مِفْتاح كلِّ شَرٍّ. (أخرجه الحاكم: ٤/١٦٢، رقم: ٧٢٣١)

رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: څوک چي شراب وڅيښي څلوېښت ورځي به نجس وي، کله چي يې توبه وايسته بېرته پاکېږي او که يې بيا وڅيښل بيا به څلوېښت ورځي نجس وي. [1]

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هر نشه ورکوونکی شی حرام دئ (لکه: شراب، هيروئين...)، الله جل جلاله دا وعده کړې ده چي څوک نشه لرونکی شی وڅيښي (يعني شراب وڅيښي) په "طينة الخبال" به يې اوبه وي. يو چا پوښتنه وکړه: يا رسول الله ﷺ! "طينة الخبال" څه شي دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: "طينة الخبال" د دوږخيانو د بدن خوله ده او يا د دوی څخه نښتېځل سوي اوبه دي. [2]

## نويشتم نبوي وصيت

### د اسلام پنځه بناوي مهمي وګڼئ!

د پنځو بناوو اړونده د رسول الله صلی الله عليه وسلم داسي وصيت کړی دئ:

---

(١) وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: من شرب الخمر كان نجسًا أربعين يومًا فإن تاب منها تاب الله عليه وإن عاد عاد نجسًا، وإن تاب تاب الله عليه فإن عاد عاد نجسًا أربعين يومًا فإن تاب منها تاب الله عليه، فإن رجع كان حقا على الله أن يسقيه من ردغة الخبال. (أخرجه الطبرانى فى الكبير: ٢٤٩/١٢، رقم: ١٣٠١٥، وأخرجه أيضًا فى مسند الشاميين: ٤٣٤/١، رقم: ٧٦٥)

(٢) قَالَ رَسُول اللَّه ﷺ: كُلّ مُسْكِر حَرَام إِنَّ عَلَى اللَّه عَهْدًا لِمَنْ شَرِبَ الْمُسْكِر أَنْ يَسْقِيه مِنْ طِينَة الْخَبَال، قَالُوا: يَا رَسُول اللَّه ﷺ! وَمَا طِينَة الْخَبَال؟ قَالَ: عَرَق أَهْل النَّار أَوْ عُصَارَة أَهْل النَّار. وَفِي مُسْنَد الْإِمَام أَحْمَد عَنْ أَبِي هُرَيْرَة أَنَّ النَّبِيّ ﷺ قَالَ: كُلّ مُسْكِر حَرَام. (وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَالتِّرْمِذِيّ، وَابْن مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيّ: صَحِيح) وَفِي سُنَن اِبْن مَاجَهْ عَنْ اِبْن مَسْعُود عَنْ النَّبِيّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: كُلّ مُسْكِر حَرَام. (قَالَ اِبْن مَاجَهْ: هَذَا حَدِيث الْمِصْرِيِّينَ رَوَاهُ مِنْ حَدِيث أَيُّوب بْن هَانِئ عَنْ مَسْرُوق عَنْهُ... أخرجه البزار كما فى كشف الأستار: ٣٥٤/٣، رقم: ٢٩٢٧، و أخرجه أبو داود: ٣٢٧/٣، رقم: ٣٦٨٠ ، والبيهقى: ٢٨٨/٨، رقم: ١٧١٢١)

عَنْ مُعَاذٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِي عَنِ النَّارِ. قَالَ: " لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ أَمْرٍ عَظِيمٍ، وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ: تَعْبُدُ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ وتحج البيت...الحديث ١

ژباړه: معاذ رضي الله عنه فرمايي: ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: اې دالله رسوله! ما ته داسي عمل را وښيه چي جنت ته مي بوزي او د دوزخ د اور څخه مي ليري کړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: دا دي يقيني د ډېر لوی کار پوښتنه وکړه او باور وکړه چي دا کار پر هغه چا اسانه دئ، چي الله جل جلاله يې ورته اسانه کړي (هغه عمل دادئ:) د الله جل جلاله عبادت کوه او هيڅ شی مه ورسره شريکوه، لمونځ کوه، زکات ورکوه، د روژې د مياشتي روژه نيسه د بيت ا لله شريفي حج کوه...الحديث

## دېرشم نبوي وصيت

### د ګناهونو څخه ځانونه وساتئ!

رسول الله صلى الله عليه وسلم ام انس رضي الله عنها ته وصيت کړی دئ ، دې مبارکي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض وکړئ، چي اې د الله جل جلاله رسوله! ما ته وصيت وکړه! رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

د ګناهونو څخه هجرت وکړه (يعني ځني ليري سه) دغسي هجرت په يقيني ډول ښه هجرت دئ او د فرضونو صحيح ساتنه (يعني ادا ينه) کوه

---

١ : رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. بحوالة مرقاة المفاتيح:١١٣٠١

او دا بهترين جهاد دئ ، دالله جل جلاله ذکر ډېر کوه ته باور وکړه، چي ستا په اعمالو کښي الله جل جلاله ته ډېر خوښ ذکر کول دي.[1]

همدا ډول په يوه بل روايت کښي راځي:

عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ يقول الله تعالى انا عند ظن عبدي بي وانا معه اذا كرني فان ذكرني في نفسه ذكر ته في نفسي وان ذكرني في ملاء ذكرته في ملاء خير منهم وان تقرب الى شبرا تقربت اليه ذراعا وان تقرب الى ذراعا تقربت اليه باعا وان اتاني يمشي اتيته هرولة. ([2])

ژباړه: د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله فرمايي چي زه د بنده سره هغسي کړنه کوم چي دی يې پرمابانديگمان کوي او کله چي دی مايادوي نو زه دده سره يم که چيری دی ما پخپل زړه کښي يادوي نو زه دی هم په خپل زړه کښي (بلاکيفه) يادوم او که چيري دی زما ذکر په يوه ډله کښې کوي زه يې تر هغه ډلي په غوره ډله کښي ذکر کوم يعني د ملائکو په ډله کښي يې ذکرکوم، که چيري بنده زما ولوري ته يوه لوېشت نژدې والی کوي زه دده ولوري ته يو ګز نژدې

---

[1] : وعن أم أنس رضي الله عنها أنها قالت: يا رسول الله أوصني، قال: «اهجري المعاصي فإنها أفضل الهجرة، وحافظي على الفرائض، فإنه أفضل الجهاد، وأكثري من ذكر الله، فإنك لا تأتين لله بشيء أحب إليه من كثرة ذكره». [رواه الطبراني بإسناد جيد]

([2] ) رواه احمد و البخاري و مسلم و الترمذي و النسآئى و ابن ماجة و البيهقى الشعب واخرج احمد والبيهقي في الاسماء و الصفات عن انس بمعناه بلفظ يا ابن آدم اذ اذكرتنى في نفسک الحديث وفي الباب عن معاذ بن انس عندالطبراني باسناد حسن وعن ابن عباس عند البزار باسناد صحيح و البيهقى و غيرهماوعن ابي هريرة عند ابن ماجة وابن حبان و غيرهما بلفظ انا مع عبدى اذ اذكرني و تحركت به شفتاه كمافي الدرالمنثور و الترغيب للمنذرى و المشكوة مختصراً و فيه برواية مسلم عن ابي ذر بمعناه وفي الا تحاف علقة البخارى عن ابي هريرة بصيغة الجزم ورواه ابن حبان من حديث ابي الدردآء آهـ

والی کوم که دی زما ولوري ته یو ګز نژدې والی کوي زه دوه ګزه نژدې والی ورته کوم او که دی زما ولوري ته راروان سي زه په منډه ورځم.

**فائده:**

په دې حديث شريف کښې دا خبره د يادوني وړ ده چي الله ﷻ فرمايلي دي: کله چي بنده ما ياد وي نو زه دده سره يم. په يوه حديث شريف کښې راغلي دي چي کله بنده ما يا دوي نو تر ځو پوري چي دده شونډې زما په ذکر ښوروي تر هغه وخته پوري زه دده سره يم يعني پر ده باندې د الله ﷻ خاصه توجه وي او په خصوصي ډول رحمت پر نازلوي.

په حديث شريف کښې بله خبره داده چي الله ﷻ فرمايلي دي: زه ددغه بنده ذکر د ملائکو په ډله کښی کوم يعنی د فخر په ډول سره ددغه بنده ذکر کوي اول په دې وجه چي د بشر د پيدائښت چي په کوم ترتيب سره سوی دی د هغه د پيدائښت سره برابر په ده کښې د اطاعت (د حکم د منلو) او معصيت (د حکم د نه منلو) ددواړو ماده پرته ده په دې حالت کښی يعنی د اطاعت کولو په وخت په يقينی ډول سره د فخر سبب دی.

دا خبره دي هم ياده وي چي په ظاهره د بشر اول وار دپيدا کېدو پر وخت ملائکو و الله ﷻ ته عرض وکړی چي اې الله ﷻ! ته په دنيا کښې داسي مخلوق پيدا کوي چي په دنيا کښی به وينی تويوی او فساد به کوي او په دې خاطر فساد کوي چي په دوی کښې د فساد ماده سته او په ملائکو کښې د فساد ماده نسته نو ځکه ملائکو و الله ﷻ ته وړانديز وکړی چي موږ ستا تسبيح او تقديس وايو.

دا وجه هم ده چي د انسان اطاعت او عبادت د ملائکو تر عبادت بهتر دی ځکه د انسان عبادت په غيبو سره دی يعنی د اخرت د ليدلو ځخه پرته دوی په غيبو سره عبادت کوي او د ملائکو عبادت د اخرت په ليدلو سره دی که انسان جنت يا دوزخ ليدلی وای نو ځه ډول عبادت به يې کولای؟

الله ﷻ په دغه وجهو د خپلو يادونکو او عبادت کونکو عبادت ملائکو ته ښيي.

## يو دېرشم نبوي وصيت

### د سهار تر فرضو مخکې د سنتو پابندي وکړئ!

ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي: يو کس رسول الله صلى الله عليه ته وويل: اې دالله جل جلاله رسوله! ماته يو داسي عمل را وښيه، چي په هغه سره ماته الله جل جلاله ګټه را په برخه کړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: د سهار دوه رکعته(سنت) کول لازم وبوله! په دې دوو رکعتو کښي يقيني ګټه ده.[1]

په يوه بل روايت کښي ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چي ويل يې: تاسو هغه دوه رکعته مه پرېږده، چي د سهار تر فرضو مخکې دي باور وکړئ، چي په دغو دوو رکعتونو کښي (د ډېرو ثوابونو لپاره) رغبت سته.[2]

عايشة رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کړی دئ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:
د سهار دوه رکعته (سنت) تر دنيا او ما فيها بهتر دي.[3]

---

[1] : عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يَنْفَعُنِي اللَّهُ بِهِ، قَالَ: " عَلَيْكَ بِرَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَإِنَّ فِيهِمَا فَضِيلَةً» ". رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ.مرقاة ا لمفاتيح: ۳ \ ۸۹۲

۲ : وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " «لَا تَدَعُوا الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ فَإِنَّ فِيهِمَا الرَّغَائِبَ» ". مرقاة ا لمفاتيح: ۳ \ ۸۹۲

[3] : عن عائشة رضي الله عنها عن النبي - صلى الله عليه وسلم - قال: «ركعتا الفجر، خير من الدنيا وما فيها». [رواه مسلم]

# دوديرشم نبوي وصيت

## عبادت په اخلاص وکړئ!

د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله رسول الله صلی الله عليه وسلم دی يمن ته لېږئ ده ورته وويل: اې د الله جل جلاله رسوله! ماته وصيت وکړه! رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: په دين کښي اخلاص کوه لږ عمل کول هم کفايت درته کوي.[1]

# دروديرشم نبوي وصيت

## حاجت مود خپل رب جل جلاله څخه په خاصه طريقه پوره وکړئ!

عبد الله بن اوفی رضي الله عنه فرمايلي دي، چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

څوک که د الله جل جلاله څخه يو خواست لري (يعني خاص حاجت وي، چي الله جل جلاله يې ورپوره کړي) او يا يې د انسانو څخه يو کس ته کوم حاجت وي نو اودس دي په ښه ترتيب تازه کړي، بيا دي دوه رکعته نفل وکړي تر نفلو وروسته دي د الله جل جلاله ثناء ووايي او درود شريف دي ووايي بيا دي لاندي دعا ووايي:

لا إله إلا الله الحليم الكريم، سبحان الله رب العرش العظيم، الحمد لله رب العالمين، أسألك موجبات رحمتك، وعزائم مغفرتك، والغنيمة من كل بر، والسلامة من كل إثم، لا تدع لي ذنبًا إلا غفرته، ولا همًا إلا فرجته، ولا حاجةً هي لك رضًا إلا قضيتها يا أرحم الراحمين»

---

۱ : عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَوْصِنِي قَالَ: " أَخْلِصْ دِينَكَ يَكْفِيكَ الْقَلِيلُ مِنَ الْعَمَلِ " شعب الايمان للبيهقي:۹ ۱ ۱۷۴

تر پورته دعا وروسته دي خپل حاجت رب جل جلاله ته عرض کړي (حاجت به یې پوره سي ان شاء الله)[1]

# ثلور دېرشم نبوي وصیت

## استخاره وکړئ!

جابر رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته په ټولو کارونو کښي استخاره راښوول په داسي ډول لکه د قرانکریم یو سورة چي راته ښيي ده مبارک فرمایل: کله، چي ستاسو څخه یو کس د کوم کار اراده وکړي نو د فرضو بغیر دي دوه رکعته لمونځ وکړي بیا دي ووایي:

اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَاَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَاِنَكَ تَقْدِرُ وَلاَ اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلاّمُ الْغُيُوْبِ اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هَذَاالْاَمْرَخَيْرٌلِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعِيْشَتِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ اَوْعَاجِلِ اَمْرِيْ وَآجِلِهِ فَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ، وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هَذَاالْاَمْرَشَرٌلِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعِيْشَتِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ اَوْعَاجِلِ اَمْرِيْ وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدُرْلِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِي بِهِ

[1]: عن عبد الله بن أبي أوفى رضي الله عنهما قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: «من كانت له حاجة إلى الله أو إلى أحد من بني آدم، فليتوضأ فليحسن الوضوء، ثم ليصل ركعتين، ثم ليثن على الله، وليصل على النبي، ثم ليقل: لا إله إلا الله الحليم الكريم، سبحان الله رب العرش العظيم، الحمد لله رب العالمين، أسألك موجبات رحمتك، وعزائم مغفرتك، والغنيمة من كل بر، والسلامة من كل إثم، لا تدع لي ذنبًا إلا غفرته، ولا همًا إلا فرجته، ولا حاجةً هي لك رضًا إلا قضيتها يا أرحم الراحمين» وزاد ابن ماجه بعد قول يا أرحم الراحمين «ثم يسأل من أمر الدنيا والآخرة ما شاء فإنه يقدر».[رواه الترمذي وابن ماجه]

بيا دې خپل حاجت ياد کړي.[1]
يعني هغه کار دې ياد کړ کوم چې ده يې اراده کړې وي، البته د دعا په الفاظو کښې چې کله د "هذا الامر" لفظ ته را ورسيږي نو په زړه کښې دې هغه کار ياد کړي کوم چې د کولو اراده يې لري.
په يوه بل روايت کښې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:
د انسان د نېکمرغيو څخه يوه نېک مرغي داده چې د الله جل جلاله څخه د خير طلب کوي (يعني استخاره کوي)[2]
دا يې هم زيات کړي ده، چې نه استخار کول د انسان د بدبختيو څخه ده.

## پنځه دېرشم نبوي وصيت

### نبوي سنت راژوندي کړئ!

رسول الله صلى الله عليه وسلم بلال بن حارث رضي الله عنه ته داسي وصيت کړئ دئ:

---

[1] : عن جابر بن عبد الله - رضي الله عنه - قال: كان رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يعلمنا الاستخارة في الأمور كلها كما يعلمنا السورة من القرآن يقول: «إذا هم أحدكم بالأمر فليركع ركعتين من غير الفريضة، ثم ليقل: اللهم إني أستخيرك بعلمك، وأستقدرك بقدرتك، وأسألك من فضلك العظيم: فإنك تقدر ولا أقدر، وتعلم ولا أعلم، وأنت علام الغيوب. اللهم إن كنت تعلم أن هذا الأمر خير لي في ديني ومعاشي وعاقبة أمري – أو قال: عاجل أمري وآجله- فاقدره لي ويسره لي ثم بارك لي فيه، وإن كنت تعلم أن هذا الأمر شر لي في ديني ومعاشي وعاقبة أمري -أو قال: في عاجل أمري وآجله – فاصرفه عني واصرفني عنه، واقدر لي الخير حيث كان ثم أرضني به. قال: ويسمي حاجته».(ترمذي شريف ۱۱۰۹\۱)

۲ : عن سعد بن أبي وقاص - رضي الله عنه - قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: «من سعادة ابن آدم استخارته الله عز وجل». [رواه الإمام أحمد وأبو يعلى والحاكم] وزاد: «ومن شقوة ابن آدم تركه استخارة الله» وقال: صحيح الإسناد.

زده کړه اې بلاله! بلال بن حارث رضي الله عنه ورته وويل: څشي زده کړم؟ اې د الله رسوله! رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: دا خبره زده کړه، چې څوک زما د سنتونو څخه يو سنت هغه مهال را ژوندی کړي چې خلکو پرې ايښی وي-دومره ثواب به تر لاسه کړي لکه څومره خلکو چې عمل پرې وکړي (داسي نه چې) د هغو د ثواب څخه به څه شی کم سي( بلکي هغو ته به هم پوره پوره ثواب ورکول سي او دهغو عملي کونکو مجموعه ثواب به ده ته يوازي ورکول سي)...الحديث[1]
په بل روايت کښي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې زما د امت د فساد په وخت کښي په يوه سنت عمل وکړي نو د سلو شهيدانو ثواب به تر لاسه کړي.[2]

## شپږ دېرشم نبوي وصيت

### د دوزخ څخه د خلاصون اسانه لار زده کړئ!

حارث بن مسلم التميمي رضي الله عنه فرمايي چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
کله چې د سهار لمونځ وکړې نو هغه مهال چې د چا سره دي خبري لا نه وکړي دغه کلمات اوه ځلي ووايه:

---

[1] : عن عمرو بن عوف - رضي الله عنه - أن النبي - صلى الله عليه وسلم - قال لبلال بن الحارث يومًا: «اعلم يا بلال»، فقال: ما أعلم يا رسول الله؟ قال: «اعلم أنه من أحيا سنة من سنتي قد أميتت بعدي، كان له من الأجر مثل من عمل بها من غير أن ينقص من أجورهم شيء، ومن ابتدع بدعة ضلالة لا يرضاها الله ورسوله كان عليه مثل آثام من عمل، بها لا ينقص ذلك من أوزار الناس شيء». [رواه الترمذي وابن حبان وقال الترمذي حديث حسن]

٢ : عن ابن عباس - رضي الله عنه - عن النبي - صلى الله عليه وسلم - قال: «من تمسك بسنتي عند فساد أمتي فله أجر مائة شهيد» [رواه البيهقي والطبراني من حديث أبي هريرة - رضي الله عنه - بإسناد لا بأس به إلا أنه قال: «فله أجر شهيدٍ»].

اللهم أجرني من النار

که په دغه ورځ کي وفات سوې الله جل جلاله به د دوزخ څخه نجات درکړي او کله چي د ماښام لمونځ وکړې نو هغه مهال چي د چا سره دي خبري لا نه وي کړي دغه کلمات اوه ځلي وو ایه:

اللهم أجرني من النار

که په دغه ورځ کي وفات سوې الله جل جلاله به د دوزخ څخه نجات درکړي[1]

## اوه دېرشم نبوي وصیت

### په عبادت کښي میانه روي وکړئ!

انس رضي الله عنه فرمايي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بيبيانو كورنو ته دري جماعته خلک راغلل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت پوښتنه يې كول، كله چي دوى ته خبر وركړل سو داسي معلومېدل لكه دوى چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم عبادت لږ باله او وې ويل: چيري موږ؟ چيري رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ هغه ته خو د شک پرته مخكي او وروسته ټولي سهوي ور معاف كړل سوي دي (مطلب يې دا وو چي رسول الله صلی الله علیه وسلم كه لږ عبادت وكړي بيا هم زموږ ډېر عبادت په هغه اندازه مفيد نه دئ) يوه وويل: زه ټوله شپه د هميش لپاره لمونځ كوم، بل وويل: زه ټول عمر روژه نيسم هيڅكله بې روژې ورځ نه تېروم ، بل وويل: زه ټول عمر د ښځو څخه ليري پاتېږم

[1] : عن الحارث بن مسلم التميمي - رضي الله عنه - قال: قال لي النبي عليه الصلاة والسلام: «إذا صليت الصبح فقل قبل أن تكلم أحدًا من الناس: اللهم أجرني من النار سبع مرات، فإنك إن مت من يومك ذلك كتب لك الله جوارًا من النار، وإذا صليت المغرب فقل قبل أن تكلم أحدًا من الناس: اللهم أجرني من النار سبع مرات، فإنك إن مت من ليلتك كتب الله لك جوارًا من النار» [رواه النسائي وهذا لفظه]

هيڅکله نکاح نه کوم، بيا دوی ته رسول الله صلی الله عليه وسلم راغلی ورته وې فرمايل: تاسو هغه خلک ياست چي دغه او دغه خبري مو کولې (هغه د دوی کړي خبري يې ور ياد ي کړې، بيا يې د دوی د سخت عبادت څخه منع او د ميانه عبادت کولو وصيت داسي ورته بيان کړی:) په الله جل جلاله دي مي قسم وي چي زه په تاسو ټولو کښي د الله جل جلاله څخه زيات ېرېږم او د الله جل جلاله لپاره زياته تقوا کوم مګر کله زه روژه نيسم او کله يې نه نيسم کله (د شپې) لمونځ کوم او کله بيد ېږم (يعني ټوله شپه متصل لمونځ نه کوم) او د ښځو سره نکاح کوم (همدا مي طريقه ده بايد د همدې طريقې پيروي وسي يعني ميانه روي وسي) او څوک چي زما د سنتو څخه مخ اړوي نو هغه زما (دامت) څخه نه دئ.[1]

## اته دېرشم نبوي وصيت

### د غمونو څخه د خلاصون دعا

انس رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: اې علي! زه تاته ولي داسي کلمې ونه ښيم چي تاته کوم غم يا درد ورسيږي او ته هغه کلمې خپل رب جل جلاله ته په دعا کښي ووايي رب جل جلاله ستا دعا قبوله کړي او هغه غم درڅخه ليري کړي (هغه کلمات دادي) اودس تازه کړه، دوه رکعته لمونځ وکړه، د الله جل جلاله

[1] : عن أنس بن مالك - رضي الله عنه - قال: جاء ثلاثة رهط إلى بيوت أزواج النبي - صلى الله عليه وسلم -، يسألون عن عبادة النبي - صلى الله عليه وسلم -، فلما أخبروا كأنهم تقالوها وقالوا: وأين نحن من النبي - صلى الله عليه وسلم -؟ قد غفر له ما تقدم من ذنبه وما تأخر. قال: أحدهم: أما أنا فأصلي الليل أبدًا، وقال الآخر: وأنا أصوم الدهر ولا أفطر، وقال الآخر: وأنا أعتزل النساء فلا أتزوج النساء أبدًا، فجاء رسول الله - صلى الله عليه وسلم - إليهم فقال: «أنتم الذين قلتم كذا وكذا؟! أما والله إني لأخشاكم لله وأتقاكم له، ولكني أصوم وأفطر، وأصلي وأرقد، وأتزوج النساء، فمن رغب عن سنتي فليس مني». [متفق عليه]

حمد او ثنا ووايه، پر خپل نبي باندي درود ووايه، د ځان ، مؤمنانو نارينوو او ښځينو لپاره د مغفرت طلب وکړه او بيا (دغه کلمې) ووايه:
اللهم أنت تحكم بين عبادك فيما كانوا فيه يختلفون، لا إله إلا الله العلي العظيم، لا إله إلا الله الحليم الكريم، سبحان الله رب السموات السبع ورب العرش العظيم، الحمد لله رب العالمين، اللهم كاشف الغم مفرج الهم مجيب دعوة المضطرين إذا دعوك، رحمن الدنيا والآخرة ورحيمها فارحمني في حاجتي هذه بقضائها ونجاحها، رحمة تغنيني بها عن رحمة من سواك.[1]

## نهه دېرشم نبوي وصيت

### د مجلس كفاره

ابوهريرة رضي الله عنه روايت کوي، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که څوک په مجلس کي کښيني او نا مناسبي خبري ځني ډيري سي بيا تر ولاړېدو مخکي (دغه کلمات) ووايي نو په مجلس کښې سوي خطاوي به الله جل جلاله خامخا ور معاف کړي (هغه کلمات دا دي:)

---

[1] : روى الأصبهاني من حديث أنس - رضي الله عنه -: أن النبي - صلى الله عليه وسلم - قال: «يا علي ألا أعلمك دعاء: إذا أصابك غم أو هم تدعو به ربك فيستجاب لك بإذن الله ويفرج عنك: توضأ وصل ركعتين واحمد الله واثن عليه، وصل على نبيك واستغفر لنفسك وللمؤمنين والمؤمنات، ثم قل: اللهم أنت تحكم بين عبادك فيما كانوا فيه يختلفون، لا إله إلا الله العلي العظيم، لا إله إلا الله الحليم الكريم، سبحان الله رب السموات السبع ورب العرش العظيم، الحمد لله رب العالمين، اللهم كاشف الغم مفرج الهم مجيب دعوة المضطرين إذا دعوك، رحمن الدنيا والآخرة ورحيمها فارحمني في حاجتي هذه بقضائها ونجاحها، رحمة تغنيني بها عن رحمة من سواك». [رواه الأصبهاني وله شواهد كثيرة]

سبحانك اللهم وبحمدك، أشهد أن لا إله إلا أنت، أستغفرك وأتوب إليك.[1]

## څلوېښتم نبوي وصيت

### الله جل جلاله ته خوښ کلام

ابوذر رضي الله عنه فرمايي ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ايا زه تا په هغه کلام خبر کړم، چي الله جل جلاله ته ډېر خوښ دئ؟ ما ورته وويل: هو يا رسول الله ! په هغه کلام مي خبر کړه، چي الله جل جلاله ته ډېر خوښ دئ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله جل جلاله ته خوښ کلام (دادئ):

سبحان الله وبحمده

يعني داچي څوک دغه کلمات وايي الله جل جلاله ډېر په خوشحاله کيږي.[2]

په بل روايت کښي راځي چي څوک يو ځلی "سبحان الله وبحمده" ووايي په جنت کښي به دده لپاره يوه درخته راشنه سي.[3]

---

[1] : وعن أبي هريرة - رضي الله عنه - أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال: «من جلس في مجلس فكثر فيه لغطه فقال قبل أن يقوم من مجلسه ذلك: سبحانك اللهم وبحمدك، أشهد أن لا إله إلا أنت، أستغفرك وأتوب إليك، إلا غفر له ما كان في مجلسه ذلك».

[رواه أبو داود والترمذي واللفظ له والنسائي وابن حبان في صحيحه]

[2] : وعن أبي ذر - رضي الله عنه - قال: قال لي رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: «ألا أخبرك بأحب الكلام إلى الله؟» قلت: يا رسول الله، أخبرني بأحب الكلام إلى الله، فقال: «إن أحب الكلام إلى الله: سبحان الله وبحمده». [رواه مسلم والنسائي]

[3] : وفي رواية لمسلم أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سئل: أي الكلام أفضل؟ قال: «ما اصطفى الله لملائكته أو لعباده: سبحان الله وبحمده».

## د مؤلف چاپ سوي اثار

۱: اړينه پوهه
۲: لوی ګناهونه ددوزخ لمبې
۳: سپېڅلي ورځې
۴: موسيقي او نوی ليکوالان
۵: تجويد (درسي کتاب)
۶: داسلامي نړۍ مظلوميت او دخلاصون لاري چاري
۷: ريشتنی باور
۸: دتلاوت لارښود
۹: دماشومانو لمونځ (درسي کتاب)
۱۰: پښتو او حساب (درسي کتاب)
۱۱: نبوي کورنۍ
۱۲: نبوي معجزې
۱۳: نبوي غزاوي
۱۴: دسپېڅلي پيغمبر سپېڅلی ژوند
۱۵: اسلامي اداب (درسي کتاب)
۱۶: دتقليد شرعي حيثيت
۱۷: ښوونه، چي ور زده کړو
۱۸: په اسلام کي حرام ديد
۱۹: خپل ځانونه وپېژنئ
۲۰: دنبوت او انبياوو تاريخ
۲۱: ددوزخ اودوزخيانو حالات
۲۲: يوولس ګناهکاري ډلي

۲۳: په سروتیارو کې سرې لمبې
۲۴: کوډې جادوګري او ناروا تعویذونه د اسلام له نظره
۲۵: فضائل اعمال
۲۶: فکري جګړه
۲۷: دامام اعظم رح وصیتونه
۲۸: شپږ ګناهګاري ډلې
۲۹: دزکاة احکام
۳۰: اسلام میشتي سیمي او دهغوی برخلیک
۳۱: قول الفهام في قرائت خلف الامام
۳۲: دانبیاوو علیهم السلام ژوندلیکونه
۳۳: ایا زموږ په هیواد کې دجمعې لمونځ سته؟
۳۴: حنفي مذهب زموږ ښکلی مذهب دئ
۳۵: مواعظ العلماء عربي دوه جلده
۳۶: تفهیم التفاسیر ۱۲ جلده
۳۷: د کرونا اړونده شرعي احکام او هدايات، همدا کتاب.
۳۸: الهي زندان او زندانیان.
۳۹: تدوین الفقه
۴۰: الکافي شرح سراجي
۴۱: ښه زده کونکی (درسي کتاب)
۴۲: سپېڅلی ماشوم(درسي کتاب)
۴۳: درسي تجوید (د څلوم ټولګی لپاره)
۴۴: درسي تجوید (د پنځم ټولګی لپاره)
۴۵: درسي تجوید (د شپږم ټولګی لپاره)
۴۶: څلوېښت نبوي وصیتونه (همدا اثر)

فهرس


| شمېره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمه | ۳ |
| ۲ | **لومړی وصيت** : (د آمر اطاعت وکړئ، د همسايه حق ورکړئ...!) | ۷ |
| ۳ | **دوهم وصيت** : (صله رحمي وکړئ، د مسکين سره محبت وکړئ...!) | ۸ |
| ۴ | **درېيم وصيت** : (صحيح دين عملي کړئ!) | ۹ |
| ۵ | **څلورم وصيت** : (اوه عجيبه خبري) | ۱۰ |
| ۶ | **پنځم وصيت** : (پنځه عجيبه خبري) | ۱۱ |
| ۷ | **شپږم وصيت** : (يوه خاصه دعا ) | ۱۲ |
| ۸ | **اووم وصيت** : (د مسلمان پر مسلمان حق) | ۱۳ |
| ۹ | **اتم وصيت** : (د بلاوو ښخه د خلاصون لار) | ۱۵ |
| ۱۰ | **نهم وصيت** : (جنت ته د داخليدو اسباب) | ۱۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱ | **لسم وصيت:** (پر حيوان باندي رحم وکړئ!) | ۱۷ |
| ۱۲ | **يوولسم وصيت:** (پنځه شيان غنيمت وګڼئ!) | ۱۸ |
| ۱۳ | **دوولسم وصيت:** (په دنيا کښې د اوسېدونکي په اړه) | ۱۹ |
| ۱۴ | **ديارلسم وصيت:**(د سفر اړوند) | ۲۰ |
| ۱۵ | **څوارلسم وصيت:** (دسهار او ماښام ذکرونه) | ۲۰ |
| ۱۶ | **پنځلسم وصيت:** (د مؤمن صفات) | ۲۱ |
| ۱۷ | **شپاړسم وصيت:** (د بخل بدي) | ۲۲ |
| ۱۸ | **اوولسم وصيت:** (ځان، اولاد او مال ته ښراوي مه کوئ!) | ۲۳ |
| ۱۹ | **اتلسم وصيت:** (د اوو هلاکونکو شيانو څخه ځانونه وساتئ!) | ۲۴ |
| ۲۰ | **نوولسم وصيت:** (معنوي حفاظت) | ۲۵ |
| ۲۱ | **شلم وصيت:** (په کلمه طيبه ويلو سره شفاعت ترلاسه کړئ) | ۲۶ |
| ۲۲ | **يوويشتم وصيت:** (د علم حاصلولو ګټې) | ۲۷ |
| ۲۳ | د علم سره د بزرګانو د محبت ځيني حالات | ۲۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | د ابودرداء رضي الله عنه د علم سره محبت | ۲۴ |
| ۲۹ | د علم لپاره د بزرګانو سفرونه | ۲۵ |
| ۳۱ | **دوویشتم وصیت**: (د سجدې ګټې) | ۲۶ |
| ۳۳ | د رسول الله صلی الله علیه وسلم سجده | ۲۷ |
| ۳۳ | رسول الله صلي الله عليه وسلم به د قيامت په ورځ خپل امتيانو د دنيا په سجدو پېژني | ۲۸ |
| ۳۴ | **درویشتم وصیت**: (د صدقې ورکولو ګټې) | ۲۹ |
| ۳۵ | **څلورویشتم وصیت**: (د څاښت نفل او درې روژې) | ۳۰ |
| ۳۶ | **پنځویشتم وصیت**: (د شرک څخه ځان ساتل) | ۳۱ |
| ۳۸ | **شپږویشتم وصیت**: (په قصدي توګه لمونځ مه قضا کوئ!) | ۳۲ |
| ۴۰ | **اوویشتم وصیت**: (د مور او پلار نافرماني نه کول) | ۳۳ |
| ۴۱ | **اتویشتم وصیت**: (شراب مه څښئ!) | ۳۴ |
| ۴۲ | **نویشتم وصیت**: (د اسلام پنځه بناوي مهمي وګڼئ!) | ۳۵ |
| ۴۳ | **دېرشم وصیت**: (د ګناهونو څخه ځانونه وساتئ!) | ۳۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۷ | **یو دېرشم وصيت**: (د سهار تر فرضو مخکې د سنتو پاپندي وکړئ!) | ۴۶ |
| ۳۸ | **دو دېرشم وصيت**: (عبادت په اخلاص وکړئ!) | ۴۷ |
| ۳۹ | **درو دېرشم وصيت**: (حاجت مو د الهي دربار څخه په خاصه طريقه پوره وکړئ!) | ۴۷ |
| ۴۰ | **څلور دېرشم وصيت**: (استخاره وکړئ!) | ۴۸ |
| ۴۱ | **پنځه دېرشم وصيت**: (نبوي سنت راژوندي کړئ!) | ۴۹ |
| ۴۲ | **شپږ دېرشم وصيت**: (د دوزخ څخه د خلاصون اسانه لار زده کړئ!) | ۵۰ |
| ۴۳ | **اوه دېرشم وصيت**: (په عبادت کښې ميانه روي وکړئ!) | ۵۱ |
| ۴۴ | **اته دېرشم وصيت**:(د غمونو څخه د خلاصون دعا) | ۵۲ |
| ۴۵ | **نهه دېرشم وصيت**: (د مجلس کفاره) | ۵۳ |
| ۴۶ | **څلوېښتم وصيت** : (الله جل جلاله ته خوښ کلام) | ۵۴ |
| ۴۷ | د مؤلف چاپ سوي اثار | ۵۵ |